


الرسالہ
Al-Risala
Ketabton.com
مارچ، ۲۰۲۶ء
MAULANA
WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرساله

Al-Risala

## مارچ، ۲۰۲۶ز

مولانا وحیدالدین خان

(د الرساله په ټولو ګڼو کې د قرآن کريم پښتو ژباړه د مولانا فاروق غلجي صاحب له ترجمې څخه اخيستل شوې ده.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې ګڼه کې


| عنوان | مخ |
|---|---|
| قال الله، قال الرسول | ۷ |
| روژه | ۸ |
| دا یوسفي سنت نه دی | ۹ |
| د ځواب دوه طریقې | ۱۰ |
| وضعي قانون او الهي قانون | ۱۲ |
| چې کله د خدای... | ۲۰ |
| بشپړه میرمنه هغه ده چې... | ۲۲ |
| دا کیسې | ۲۳ |
| د ژوند راز | ۲۶ |
| ولې ښځې؟ | ۲۸ |
| دین څه دی؟ | ۳۰ |


**او نور ډېر څه...**

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان ته روا نه ده، چې څه یې په زړه کې ور وګرځي هغه وکړي او کومه خبره یې چې زړه وغواړي، هغه په خوله راوړي. مسلمان ته بويه چې په روا بريدونو کې خپل ژوند تېر کړي او له ناروا شيانو نه د تل لپاره روژه ونيسي ـــــ د روژې مياشت د همدغسې «روزه دار» ژوند سبق دی، چې هر کال مسلمانانو ته ورکول کېږي.

***

«ورځپاڼې واخلئ ورځپاڼې»؛ ورځپاڼه وېشونکي اوازونه وکړل او ژر، ژر يې د ټولو ورځپاڼو نومونه واخيستل؛ د مختلفو کړيو، د مختلفو ژبو، مختلفو ګوندونو ورځپاڼې وې. او زه په سوچ کې شوم، چې د اخبار پلورونکي په کڅوړه کې د مختلفو ډلو اخبارونه يو ځای راټللی شي، خو د خدای په ځمکه مختلفې ډلې يو ځای ولې ژوند نه شي کولی.»

***

هر مسافر پوهېږي، چې که يو موټر ورنه تېر شي، نو سمدستي بل موټر ورته پيدا کېږي چې خپل سفر په کې لنډ کړي.

تمځای موږ ته همدا درس راکوي. خو له زياتره خلکو نه دغه روښانه درس هغه مهال هېر وي، چې د ژوند په منډه کې يې کوم فرصت له ګوتو ووځي.

***

د عمر رضي الله عنه قول دی:

لاتعتمد علی خلق رجل حتی تجربه عند الغضب (العبقريات السلامية، ٥٠٥)

د يو چا په اخلاقو تر هغو بروسه مه کوئ چې د غوسې په وخت کې مو نه وي امتحان کړی.

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

★

«الرساله» رسنيز کاروبار نه دی. الرساله خو مازې د دې خبرې خبرداری دی، چې خلکو! هوښيار شئ، ځکه هغه وخت په منډو درته رادرومي چې ټول انسانان به د رب العالمين مخې ته ودرول شي. نه به د چا لپاره د دلايلو فرصت وي او نه د سرتمبګۍ. هر انسان به مجبور وي چې د حقيقت په وړاندې خپله غاړه وغورځوي. مخکې له دې چې دا وخت راشي، لويه عقلمندي دا ده چې موږ سر له اوسه د رښتينولۍ په وړاندې ټيټ شو، ځکه د سبا ورځې ټيټېدنه رسوايي ده او د نن ورځې ټيټېدنه درناوی دی.

په داسې حالت کې به له موږ نه ډېر نادانه څوک نه وي چې د خپل ځان په خلاف تنقيدونو باندې غور ونه کړو. خو ډېر افسوس درېږي چې کله ګورو، چې دې تنقيدونو کې يا خو لفظي شور او غوغا وي او يا بې تړاوه بحثونه وي.

دريغه خلکو ته معلومه وای چې په دوو کې يوازې يوه رويه ورته سمه ده: يا علمي ترديد او يا علمي اعتراف. بې معنا بحثونه په دې دنيا کې يو انسان ژغورلی شي خو په اخرت کې هېڅ څوک نه شي ژغورلی، ان که په خپل زړه کې هر څومره په خوشباوري کې مبتلا وي وي.

د ژوند تر ټولو سنګين حقيقت دا دی چې زموږ هره خبره که په ظاهره د انسان په وړاندې وي، په حقيقت کې د خدای په وړاندې ده. ځکه د انجام له پلوه به هر بنده د خدای په وړاندې ځوابويونکی وي.

له خولې نه مو چې هره خبره راوځي، لومړی يې د انصاف په تله تول کړئ. که مو نن داسې ونه کړل، نو سبا ورځ به يې خدای د انصاف په تله کې تول کوي او څوک چې د خدای حضور ته وړاندې شو، د هغه لپاره له هلاکت پرته نور هېڅ هم نشته:

**(من نوقش فقد هلک)**

★

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قال الله، قال الرسول

کله چې لمر ونغښتل شي. او چې ستوري خړ واوړي. او کله چې غرونه روان کړی شي. او کله چې لس میاشتیزې (بلاربې اوښې) خوشې کړی شي. او کله چې (وحشي) ځناور سره غونډ کړی شي. او کله چې سمندرونه لمبې وکړي. او کله چې ساګانې (جسدونو سره) جوړه کړی شي. او کله چې ژوندۍ ښخه شوې جینۍ وپوښتلې شي. چې په کومه ګناه وژل شوې ده؟ او کله چې عملنامې پرانیستلی شي. او کله چې داسمان پوستکی واړول شي. او کله چې د دوزخ لمبی بلې کړی شي. او کله چې جنت را نیږدې کړی شي. بیا به هرکس ته معلومه شي چې څه یې راوړي. (تکویر)

هغه وخت چې اسمان وچوي. او چې ستوري خواره واره شي. او کله چې سمندرونه وشلیږي. او چې قبرونه څیرې کړی شئ. بیا به هر کس ته هغه څه معلوم شی چې وړاندې یې لیږلي او وروسته یې پرېښي. اې انسانه! ته څه شي په خپل مهربانه رب غولولی یې. هغه چې ته یې پیدا کړې، بیایې سم برابر کړې. په هر شکل یې چې غوښتل ته یې سره ونښلولې. هیڅکله نه، اصلاً تاسې جزا او سزا دروغ ګڼئ. حال داچې پر تاسې ساتونکي (ملایکان) ټاکل شوي. یعنې عزتمن لیکونکي. چې ستاسو په کړو وړو پوهېږي. یقیناً نېکان به حتماً په نعمتونو کې وي. او بدان به خامخا دوزخ کې. د جزا په ورځ به هغه ته ورننوځي. او له هغه به پټېدونکي نه وي. او ته څه خبر یې چې د جزا ورځ څه ده؟ بیا هم څه خبر یې چې د جزا ورځ څه ده؟ هغه ورځ چې هېڅوک به چاته هېڅ نه شي کولای او ټول حکم به هغه ورځ یوازې الله لره وي. (انفطار)

کله چې اسمان وچوي. او د خپل رب حکم واوري او ومني او هغه د همدې وړدی. او کله چې ځمکه وغوړوله شي. او څه چې پکې دي هغه وغورځوي او خالي شي. او د خپل رب حکم واوري او ومني او هغې سره همدا ښایي. اې انسانه! ته د خپل رب لورته (ورتلو پورې) زحمت وېستونکی او بیا ورسره مخامخېدونکی یې. نو د چا عملنامه چې په ښي لاس یې ورکړې شوه. نو ژر به له هغه سره اسانه حساب وشي. او (جنت کې به) خپلې کورنۍ ته خوشاله ورستنېږي. او هر هغه چې عملنامه یې له شاته ورکړی شوه. نو ژر به مرګی وغواړي. او بلو لمبو ته به ورننوځي. هغه بې شکه خپله کورنۍ کې خوشاله وو. هغه ګومان کاوه چې بیا به ورستون نه شي. ولې نه، یقیناً د هغه رب وربانديې لیدونکی و. (انشقاق)

ابوذر رضي الله عنه وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه هغه څه وینم، چې تاسې یې نه وینئ. په اسمان کې څرپی دی او دا رښتیا ده چې په هغه کې څرپی دی. په اسمان کې یوه لوېشت ځای هم داسې نشته چې یوې پرښتې دې خپل تندی د خدای لپاره په سجده کې نه وي ایښی. په خدای قسم، که تاسې په هغو خبرو پوه شئ چې زه وربانديې خبر یم، نو خاندئ به کم او ژاړئ به ډېر، په ښځو کې به درته خوند پاتې نه شي. تاسې به خدای یادوئ او د میدانونو په لور به ووځئ. (ترمذي)

★

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روژه

**د خپل اصل حقیقت له مخې، روژه دا ده چې انسان له دنیوي بوختیاوو سره خپله اړیکه غوڅه کړي. له دغه ډول روژه داري نه څه ډول کټه مطلوب ده، په یوه ټکي کې هغه کټه دا ده چې د انساني وجود مادي اړخ کمزوری شي او روحانیت یې وده وکړي تر څو له قدسي عالَم سره یې تړون ممکن شي. د بدن د مادي غذا په مقابل کې د روژې مقصد روح ته معنوي خواړه رسول دي.**

**انسان په یوه وخت کې د دوو شیانو مجموعه ده. یو ماده ده او بل روح دی، چې د اوسنۍ زمانې اروپوهان یې د ذهن په نوم پېژني. د انساني وجود مادي برخه د ده یوه اړینه اړتیا ده. ځکه له مادي وجود پرته انسان په دنیا کې خپل مسؤلیتونه سرته نه شي رسولی. خو په خوا کې یې دا هم همدومره اړینه ده، چې د ده روح یا د معاصرې اروپوهنې په ژبه کې د ده ذهن هم خپل مجرد حیثیت د امکان تر بریده له لاسه ورنه کړي او په خپل غیرمادي حیثیت کې د امکان تر حده وده ورکړي تر څو غیرمادي حقایقو ته یې سوچه لاسرسی ممکن شي.**

★

# له دې نه خو...

یوه څېړونکي په ټوله نړۍ کې د ځان‌وژنې پېښې څېړلې دي. په دې برخه کې ده د هغو خلکو ژوند ته هم کتنه کړې ده، چې د ځان‌وژنې اقدام یې کړی دی، خو په یوه پلمه له مرګ نه بچ شوي دي. په دې څېړنه کې لیکوال وموندله، چې دغه ډله خلک عموما په خپل وروسته ژوند کې خورا ډېر کامیاب پاتې شوي دي. د دې وجه غالباً دا ده چې کله دوی مرګ ته نیږدې ورسېدل او د مرګ وېرونکې څېره یې ولیده، نو ژوند ورته بې حده ګرانبیه په نظر ورغی. هغوی په نوي تلاش او نوي اعتماد سره ژوند ته غېږه ورکړه. د هغوی ناهیلي بېرته په امید بدله شوه.

«له دې نه خو ژوندی ښه وم، مرګ خو کامله بربادي ده، حال دا چې له مرګ نه مخکې خو په دې پوزیشن کې وم، چې له بربادۍ نه د وتلو لپاره لاس و پښې ووهم.» دغه احساس په دوی کې د ژوند او کار نوې ارزو زرغونوله.

دا صرف د هغې ابتدایي تجربې پایله ده، چې له جسم نه د روح د بېلېدو په وخت کې په بنده تېرېږي. که انسان له دې ور اخوا دا هم وګوري، چې د دغې بېلتون له بشپړېدو (مرګ) وروسته انسان څه ډول دنیا ته رسېږي، او هلته به په ده څه تېرېږي، نو د ده په ژوند کې به تر دې هم لوی انقلاب راشي. دی به خپل ژوند په ټوله معنا د اخرت خواته واړوي. له بل هر اړخ نه به مخ واړوي او د اخرت اړخ ته به لومړیتوب ورکړي. د اخرت معامله دومره سخته ده، چې کله انسان ورسره مخ شي، نو هر هغه شی به ورته چټې ښکاري، چې دی ورته خپل اخرت له پامه غورځوي.

★

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا یوسفي سنت نه دی

په قرآن کریم کې د پخوانیو اهلِ کتابو ګڼ عادتونه یاد شوي دي، له هغو نه یې یو دا هم دی:

«او له دوی نه خامخا یوه ډله ده چې په کتاب (لوستو) ژبې داسې اړوي چې تاسو یې له کتابه وګڼئ حال دا چې هغه له کتابه نه دي او دوی وایي چې هغه د الله له لوري دی حال دا چې هغه د الله له خوا نه دي او پر الله دروغ وایي او دوی (ښه) پوهېږي.» (عمران: ۷۸)

د ژبې په اړولو خبرې کول یا (**لیّ لسان**) نه ځینې خلک د ژبې په تاوولو سره د الفاظو د بدلولو معنا اخلي. له جزوي پلوه په (**لیّ لسان**) کې دا مفهوم هم شامل دی. خو د (**لیّ لسان**) اصلي مفهوم معنوي تحریف دی. (**لوی لسانه بکذا کنایة عن الکذب و تخرص الحدیث، راغب**) مثلاً د خپل یوه غلط کار لپاره د الله په کتاب کې یو لفظي شباهت پیدا کول او بیا دا خبره کول، چې دغه کار له پلاني الهي حکم سره سر خوري یا دا چې له همدې حکم نه اخیستل شوی دی. شیخ محمد عبده مصري ویلي دي چې دا هم د (**لیّ لسان**) مثال دی، چې حضرت مسیح علیه السلام د خپلو مخاطبینو د پوهولو لپاره په مجازي ډول د خدای او بنده لپاره د **اب** او **ابن** (پلار او زوی) توري وکارول. خو وروسته مسیحي علماوو دغه توري په حقیقي معنا واخیستل او د دغه لفظي مشابهت په مټ یې د بې لارۍ بشپړه ودانۍ ودروله او د توحید له دعوت نه یې د شرک عقیده وزېږوله.

(په کتاب کې د ژبې اړولو) معنا د کتاب کلمې مروړل دي. دا خبره به سمه وي چې له (**لیّ لسان**) نه مراد تقریباً هماغه څه دی چې په اوسني عصر کې یې غلط تعبیر (Misinterpretation) بولي. دا کار که په لوی لاس شوی وي، نو د الله په نزد ډېر بد جرم دی. خو دا چې هره کړنه درجې لري، نو د دې کار هم ګڼې درجې دي.

ځینې مېړني مسلمانان د «محمدي سیاست» له شعار سره راپورته کېږي او د خپل هېواد له مسلمانانو واکمنو سره جګړې رااخلي او د واک له ګدۍ نه د هغو د ګوښه کولو (Unseat) غورځنګ مخته وړي. په پایله کې یې د دواړو ترمنځ تصادم رامنځته کېږي. واکمنه طبقه خپل سیاسي مخالفین نیسي او زندانونو ته یې استوي. په دې وخت کې د محمدي غورځنګ رهبران خپله کلنۍ «جهادنامه» خپروي او په ډېر ویاړ سره دا توري په کې لیکي چې:

«زموږ د غورځنګ له مرکزي او د ولایت او ولسوالۍ د کچې له مسؤلینو څخه به شاید داسې سړی نه وي چې د یوسفي سنت له ادا کولو محروم پاتې شوی وي.»

دغه ډول بند ته «یوسفي سنت» نوم ورکول هم د (**لیّ لسان**) یو قسم دی. حضرت یوسف علیه السلام بې له شکه زندان ته واستول شو، هماغسې چې د محمدي سیاست مجاهدین زنداني کړای شوو. خو په دواړو کې له لفظي ګډون ور اخوا نور هېڅ نسبت هم نشته. حضرت یوسف علیه السلام په دې وجه زندان ته نه و استول شوی چې د خپل وخت د واکمن په خلاف یې د اپوزیسیون ګوند جوړ کړی و او له واک نه د هغه د غورځولو لپاره یې زورور غورځنګ په لاره اچولی و او واکمن د دې لپاره یوسف علیه السلام بندي کړی و چې خپل سیاسي حریف له میدانه لرې کړي. د هغه د بند سبب په بشپړه معنا غیرسیاسي و. حضرت یوسف د یو طرفه اقدام له مخې زندان ته استول شوی و، نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي مخالفت په جرم کې. له واکمنو سره سیاسي اخ و ډب چېړل او په پایله کې یې د مسلمانانو په دوو برخو وېشل خو په اسلام کې په صراحت سره ممنوع دي. د دغه ډول غیراسلامي سیاست په پایله کې زندان ته تلل او بیا یوسفي سنت نوم ورکول همداسې ده چې یو مسلمان خپل مسلمان ورور په لوی لاس ووژني، چې په شریعت کې حرام دی، بیا د هغه د جنازې لمونځ ادا کړي او د خپلې ورځپاڼې په اولنۍ صفحه کې اعلان وکړي: «د مقتول د جنازې لمونځ په شرعي طریقه ترسره شو.»

په همدې باره کې په قرآن کریم کې ویل شوي دي، چې ایا نو د کتاب څه برخه منئ او څه نه منئ؟ (بقره: ۸۵)

په مسلمانانو کې سیاسي درزونه پیدا کول، چې د پیغمبرانه شریعت خلاف عمل دی او چې کله زورور لوری خپل مخالف لوری ونیسي او زندان ته یې وغورځوي، نو هله دې کار ته پیغمبرانه سنت نوم ورکول، د خدای د غضب پاروونکې طریقه ده، نه دا چې په پایله کې یې خدای د خپل رحمت سیوری راباندې وغوړوي.

---

# د ځواب دوه طریقې

چې کله یوه غوسه پاروونکې خبره وشي، نو د ځواب لپاره یې دوه طریقې لرو. یوه دا ده چې بنده وپارېږي او په ناقد باندې د بد او پېغور خوله خلاصه کړي. بله طریقه دا ده چې د ناقد خبره په سړو مغزو واورېدل شي. د هغه د خبرې نا اړوند اړخونه په پام کې ونه نیول شي او اصلي خبرې ته یې بیخي په ساده ټکو کې ځواب وویل شي. په دې دواړو کې صرف دویمه طریقه اسلامي طریقه ده. په دې تړاو به دلته ځینو مثالونو ته تم شو:

**۱ – ابن عبدالبر اندلسي (مړ ۴۶۳ هـ) لیکي:**

روینا ان طاؤسا و وهب بن منبه التقیا فقال طاؤس لوهب یا ابا عبدالله بلغنی عنک امر عظیم. فقال ما هو. قال تقول ان الله حمل قوم لوط بعضهم علی بعض. قال اعوذ بالله، ثم سکتا قال فقلت هل اختصما قال لا.

(جامع بیان العلم و فضله، جزء ثاني، صفحه ۹۵)

**ژباړه: موږ ته وویل شوو چې طاؤس او وهب بن منبه یو بل سره مخ شول، نو طاؤس وهب ته وویل: وا ابو عبدالله! ستا په باره کې خو ماته ډېره لویه خبره رارسېدلې ده. هغه وپوښتل، څه ډول خبره؟ طاؤس وویل، ما اورېدلي دي چې ته وایې چې الله تعالی پخپله د لوط قوم ځینې وکړي په ځینو نورو خېژولي وو. وهب سمدستي وویل، خدای ته پناه وړم. بیا دواړه غلي شوو. ما له راوي وپوښتل. آیا دواړو بحث سره وکړ؟ هغه وویل، نه.**

**۲ – د مولانا احمد علي لاهوري زوی مولانا حبیب الله لاهوري د مولانا سید حسین احمد مدني (۱۹۵۷ – ۱۸۷۹) یوه کیسه بیان کړې ده:**

**دی په دارالعلوم دیوبند کې د مولانا مدني د حدیث په دوره کې شامل و. د درس له کدونوالو نه د یوه طالب العلم په زړه کې شوخي ور تېره شوه. هغه مولانا ته یوه ورقه ولېږله او په**

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکلي ډول یې دا سوال ورنه وکړ چې ستاسې په باره کې ویل کېږي چې تاسې حرمونی یاستئ. مولانا مدني ورقه ورسره کېښوده او په لومړۍ ناسته کې یې هېڅ ځواب ورنه کړ. په دویمه ناسته کې چې کله ټول زده کوونکي راټول شوو، نو مولانا وفرمایل «یوه ملګري ماته په ورقه کې لیکلي دي چې ته له خپله پلاره څخه نه یې.»

په دې سره په ټول مجلس کې یو هیجان راولاړ شو. زده کوونکي له قهر او غوسې ډک شول چې کوم بې ادبه دا کار کړی دی. مولانا مدني وفرمایل «پام کوئ، هېڅ څوک دې غوسه نه کوي. زما حق دی چې زه سائل ته تسلي ورکړم. بیا یې په ډېره سنجیده ژبه وویل. «زه د فیض آباد ولسوالی، ټانډه کلي اوسېدونکی یم. زما د مور او پلار د نکاح شاهدان اوس هم ژوندي دي. د لیک له لارې یا پخپله هلته لاړ شئ، معلومات به ترلاسه کړئ.»

اوس یې یو برعکس مثال در واخلئ.

د یوه مشر عالم په ویناوو او غونډو کې به یوه کس ډېره زیات ګډون کاوه. دې سړي هغه عالم ته ډېر زیات عقیدت درلوده. خو وروسته په کومه خبره ورسره وران شو او د عالم په خلاف یې د تنقیدونو خوله خلاصه کړه. په دې تړاو نوموړی عالم لیکي «خبره دا ده چې د هغه سړي په زړه کې د مرزا غلام احمد قادیاني عقیدت ډېر په شدت موجود و، ما پخپله یوه ویناکې ښه په جار دا خبره وکړه، چې څوک چې د حضرت مسیح بې پلاره زېږون نه مني، زما په نزد هغه په قرآن کریم هم ایمان نه لري. زما دغه خبره د سړي د زړه په پټو ګوښو کې په ودانې بتخانې سمه پر ځای ولګېده. له هغه وروسته یې زما په غونډو کې ګډون پرېښود او د مرزایي توطئو له لارې یې زما په خلاف د خلکو په پارولو او لمسولو پسې پایڅې بډ وهلې.»

بیا یې نوموړی کس مخاطب کړی او لیکلي یې دي:

«دا ستا هغه پټ شوی قادیاني رګ دی چې ما یې د چېرلو جرم کړی دی. بیا که په تا کې د نرانو یوه ذره هم وي، نو مخامخ راشه او په اصلي مسئله خبرې وکړه، د آبرو بایللې ښځې غوندې دا کار څه فایده لري چې په خوله د «ورونو» نوم اخلې، خو ژړا دې په اصل کې د «یارانو» لپاره ده؟ اوس مې چې له قلم نه دا جمله ووتله، نو ورسره دا فکر هم ذهن ته راغی، چې د دې سړي په اړه دې د نرانو «ګمان» څنګه ذهن ته راغی؟ دغه د هډوکو په ټي بې مبتلا او له سر او څېرې نه «کوسا» او خارښ وهلی انسان چې ټول ژوند یې د واده په اړه فکر هم ونه کړ، اوس په دې اخره کې چې د رنډیو کردار ونه کړي او بوسو ته له اور اچولو وروسته ننداره ته یې ونه درېږي، نور څه وکړي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وضعي قانون او الهي قانون

راسکو پاؤنډ (۱۹٦۴- ۱۸۷۰) د قانون مقصد ټولنیزه انجینري (Social Engineering) ښودلې ده. دا خبره به یقیناً سمه وه، په دې شرط چې پاؤنډ (Roscoe Pound) دا هم ثابته کړې وای چې بشري ټولی د کمپیوټرونو ټولگه ده. خو له بده مرغه د یاد امریکایي پروفیسور لپاره د دې خبرې ثابتول ممکن نه دي. او همدا هغه مقام دی چې د وضعي قانون د هغې کمزورۍ راز په کې نغښتی دی چې له دوه نیم زره کلنو هڅو سربېره یې تر اوسه پورې د منلو وړ قانوني اصول نه دی په گوته کړی.

کله چې موږ قانوني اصول رامطالعه کوو، نو تقریباً د یو درجن لویو مکتبونو نومونه زموږ مخې ته راځي. خو که له فني توضیحاتو راتېر شو، نو دغه فکري مکتبونه اصولاً په دوو ډلو وېشلی شو.

یو، ایډیالوژیک قانوني اصول (Ideological Jurisprudence) دی، چې په دې لټه کې دی چې «قانون باید څه ډول وي» (Law as it ought to be).

دوهم، تحلیلي قانوني اصول (Analytical Jurisprudence) دی، چې د قانون هماغسې تعبیر وړاندې کوي، چې «څنگه چې پخپله قانون دی» (Law as it is).

د قانوني اصول تاریخ راته وایي چې دغه دواړه مکتبونه یوې ټول‌منلي پایلې ته په رسېدو کې په بشپړه توگه پاتې راغلي دي. قانونپوهان چې کله د دوهم (تحلیلي) اصول په رڼا کې قانون تشریح کوي، نو هغوی له دې تنقید سره مخ کېږي چې په دې ډول خو یې د قانون منطقي جواز له لاسه ورکړی دی او چې کله د لومړني اصول په رڼا کې په قانون ځان پوهول غواړي، نو داسې ښکاري چې د دغسې یوه شي پنځول اصلاً ممکن نه دي.

په یوه خوا کې هغه حقوقپوهان دي چې قانون ته مازې له دې زاویې گوري چې قانون د بشري جامعې لپاره یو خارجي سکلېټ دی، له همدې امله قانون د ټاکلو قواعدو او مقرراتو په رڼا کې کټ مټ هماغسې جوړېدی شي، لکه په ژوبڼ کې چې د حیواناتو لپاره یو قفس جوړېږي. د جان آسټن (۱۸۵۹- ۱۷۹۰) مشهوره نظریه د همدغه لیدلوري پلوې وه چې ویلي یې و:

> **«قانون د هغو فرمانونو نوم دی چې له سیاسي پلوه د مشر له لوري په کشر باندې پلي کېږي. فرق نه کوي چې دغه مشر پادشاه دی یا مقننه قوه.»**

د جان آسټن (John Austin) پاسنی نظر په ظاهره د عملي کېدو وړ خبره ښکاري خو له منطقي صحت نه په بشپړ ډول بې برخې ده. ځکه دغه نظریه قانون‌جوړوونکي ته دا مقام ورکوي چې د هغه کار د عدل له معیارونو سره هېڅ تعلق نه مومي. حال دا چې انساني عقل هېڅ کله هم دا نه شي منلی چې د عدل (Justice) تصور دې له قانون نه بېل وي. قانون چې کله په یو چا یوه پرېکړه عملي کوي، نو دغه پرېکړه هماغه وخت روا پرېکړه ده چې د عدل په ستنو ولاړه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نن ورځ له عملي پلوه په ټوله دنیا باندې د جان آستین د نظریې واکمني ده او تش په نوم خپلواکې دنیا کې دغه کار له هر ډول قانوني اصول پرته جریان لري. یوه فرانسوي حقوقپوه د خپل حکومت په باره کې یوه خبره کړې وه، او هغه خبره یې په نورو ټولو حکومتونو هم صدق کوي:

**«زموږ حکومت د قانون د پلي کولو لپاره زور لري، خو د دې کار حق نه لري.»**

په سوشیالیستي دنیا کې دغه جبري منطق د شوروي قانوني اصول تر سیوري لاندې منګولې خښې کړې او هغه دا چې پخپله اشتراکي یا ټولنیزې اړیکې (Social Relationships) د قانون بل نوم دی. دا چې په سوشیالیستي دنیا کې علمي څېړنې هم د سیاست یوه برخه وې، د همدې لپاره د نورې دنیا د مفکرینو دا تنقید کوم اغېز ورباندې ونه کړ، چې د قانون په هکله پاسنی سوشیالیستي تفسیر د قانون له معیاري کردار نه انکار کوي او قانون یوازې تر اقتصادي قانون پورې راټیټوي. (It reduces law to economic law.)

له عملي پلوه خو په ټوله دنیا کې همدا حال دی چې د سیاسي ځواک په مټو قوانین جوړېږي او پلي کېږي. خو د قانونپوهان یوه طبقه له دې ټولو نه په یوه ګوښه کې په بې غمه زړه د قانوني اصول لپاره په علمي لټون بوخته ده. خو تر دې دمه پورې هغوی خپل لټون یوازې دې پایلې ته رسولي دي چې د قانوني اصول په مسئله کې یوه ټول‌منلي معیار ته رسېدلی ناشوني دي، ځکه د دغه لټون مقصد د قانوني معیارونو (Legal Norms) په ګوته کول دي، او قانوني نورمونه هماغه وخت ټاکل کېدی شي چې لومړی اساسي بشري ارزښتونه معلوم شي. او ټول پوهان په یوه خوله دي چې د ارزښتونو (Values) تعریفول له سوچه عقلي طریقو ممکن نه دي.

د قانوني اصول، مقصد د قانون فلسفي بنسټ (Philosophical Foundation) یا د هغه حقوقي ارزښت (Legal Value) لټول دي. یا دا چې د قانوني اصول کار دا دی چې د قانون لپاره جواز یا توجیه (Justification) ولټوي. تر څو چې یو قانون په خپل ملاتړ کې یو منلی قانوني اصول ونه لري، عقلاً روا نه ده چې هغه قانون دې په هغو انسانانو نافذ کړای شي، چې د یوه شي د ارزښت او قیمت د معلومولو یوازینی معیار ورسره عقل دی. همدا ده چې د معلوم تاریخ له مخې انسان له دوه نیم زره کلونو راهیسې په دې هڅه او تلاش کې دی، خو د بې شمېره ذهنونو له هلو ځلو سربېره تر اوسه پورې په دې کار کې نه دی بریالی شوی.

د قانون تاریخ راته وايي، چې کله انسان په لیک او لوست نه پوهېده، په هغه وخت کې هم قانون په یو نه یو شکل موجود و. د لیک له ایجاد وروسته قانون په لیکلي ډول منځته راغی. تر ټولو لرغونی لیکلی قانون چې لاسته راغلی دی، د سومیري پادشاه حمورابي قانون دی، چې په ۱۹۰۰ قبل المیلاد کې وضع شوی دی. سومیري قوم د دجلې او فرات په دره کې استوګن و.

د قانوني اصول په هکله د غور او فکر هڅې، د تاریخي شواهدو له مخې، له یوناني فیلسوفانو راپیل شوې. سولون چې د لرغوني یونان نومیالی قانونپوه و، د هغه د ژوند زمانه له مسیح نه شپږ سوه کاله دمخه وه. د قانون په هکله د افلاطون (۳۴۷- ۴۲۷ ق م) کتاب د لرغوني زمانې تر ټولو مشهور کتاب دی. حقوق د یوه په مسلک په حیث تر ټولو دمخه په روم کې له مسیح نه شاوخوا پنځه سوه کاله دمخه پیل شو. تر پنځلسمې پېړۍ پورې قانون د تیولوژي (الهیاتو) یوه څانګه ګڼل کېدله. په شپاړسمه پېړۍ کې هغه نوی فکر پیدا شو، چې بلاخره یې قانون له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مذهب نه جدا کړ. مګر بیا هم قانون د سیاستپوهنې له څانګې سره تړلی پاتې و. خو نولسمه پېړۍ دا امتیاز لري، چې د قانون فلسفه یې د سیاست له فلسفې نه بېله کړه او قانوني اصول یې یوه خپلواک علم ته لوړ کړ او د اختصاصي څېړنې په موضوع یې بدل کړ.

د لرغوني زمانې فیلسوفانو به له ځینو حقونو څخه خپل قانوني اصول استنباط کاوه او دې اصولو ته یې د طبیعي حقونو نوم ورکړی و. له شپاړلسمې پېړۍ وروسته په اروپا کې فکري انقلاب راغی، او ثابته یې کړه چې دغه حقونه په حقیقت کې ځیني مفروضات دي چې تر شا یې هېڅ عقلي دلیل وجود نه لري. تر هغه وروسته د فرد ازادي تر ټولو ستر حق وپېژندل شو، چې د قانوني اصول د بنیاد لپاره کارېدلی شي. خو د صنعتي انقلاب نتایجو وښودله چې د فرد آزادي که مطلق خیر (Summum Bonum) ومنل شي، نو دا حق خو انسانیت له استحصال او انارشۍ پرته نور هېڅ ځای ته هم نه رسوي. نو تر هغه وروسته ټولنیز خیر (Social Good) تر ټولو لوی خیر وپېژندل شو، چې د قانون‌سازي لپاره یې د لاربنود اصول حیثیت خپل کړی و. خو کله چې د دغې نظریې له لومړنۍ استفادې څخه یو بوړنوونکی سیاسي جبر منځته راغی، نو معلومه شوه چې د فرد آزادي که د ټولنې لپاره زیانمنه وه، نو د ټولنیزې ښېګڼې نظریه خو فرد په مجبور او په قهر ککړ وجود باندې بدلوي. شلمه پېړۍ د فرد او ټولنې ترمنځ د همغږۍ د لټولو پېړۍ وه. د دغې پېړۍ په نیمه کې د ځینو فکري مکتبونو چې هرکلی وشو، د هغو خلاصه دا وه چې دوی د قانون لپاره د یوه داسې بنیاد په لټه کې وو چې د هغه په سر د فرد او ټولنې راز راز غوښتنې سره هم‌آهنګې شي. خو دې تجربې هم بې له ناکامي نه بله لاره ونه لیدله. او بیا د دغسې عنوانونو کتابونه هم بازار ته راووتل:

Law in Quest of Itself

(قانون د ځان په لټه کې)

تر دې چې د قانون پوهانو یوې ډلې خپله وروستۍ پرېکړه ورکړه چې د دغو ټولو هڅو کامیابي هېڅ امکان نه لري:

د قانوني مقرراتو سوچه منطقي تاویل ناشونی دی. ګستاو ریډبرش (۱۹۴۹- ۱۸۷۸) به ویل چې مطلوب قانون یوازې د اقرار (Confession) له لارې خپلېدی شي او د خپلولو وجه به یې دا نه وي چې ګواکې دغه قانون له علمي پلوه هم په ثبوت رسېدلی دی. د راډبرش مثال مازې انفرادي مثال نه دی، بلکې د همدې نظریې له مخې خپلواک فکري مکتب منځته راغلی چې د نسبي فکري مکتب په نوم پېژندل کېږي. د دې فکر خاوندان (Relativists) وایي:

**«د قانون په هکله مطلق قضاوت نه شي کېدی.»**

موږ پاس هم وویل، چې د قانوني اصول مشکل دا دی چې هغه د یوه داسې شي په لټه کې دی، چې نېغ په نېغه د ارزښتونو له مسئلې سره تعلق لري او دا هغه مسئله ده چې انساني عقل په کې له خپلو ټولو هڅو سربېره یوه ټول‌منلي ځواب ته په رسېدو کې مطلق پاتې راغلی دی. په یوه خوا کې خبره دا ده، چې انسان، وجداناً د خیر او شر دومره شدید احساس لري، چې نه د اتلسمې پېړۍ میخانیکي فلسفې دغه احساس ختم کړای شو او نه د شوروي روسیې توتالیستاریستي نظام، چې له نیمې پېړۍ نه هم زیاته موده یې دا فرصت په ګوتو کې و، چې بشري

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسل له خپل فکري قالب سره عيار کړي. په بله خوا کې دا ستونزه ولاړه ده، چې عالي ذهنونه له ټولو هڅو سره، سره د ارزښتونو لپاره د يوه متفقه معيار په موندلو کې په بشپړه توګه ناکام پاتې شوي دي. ساينس دا خبره ورو په ورو لا ډېره روښانوي چې موږ په يوه داسې دنيا کې يو، چې دلته ارزښتونه خپل عيني حيثيت (Objective Status) نه لري.

جوزف وډکرچ (۱۹۷۰- ۱۸۹۳) په خپل ډېر پلورل شوي کتاب (The Modern Temper) کې همدا موضوع شاربلې ده. پروفيسور کرچ ليکي چې «انسان چې هر څومره هڅه وکړي، د ده د اروا دوه نصفه په ډېرې سختۍ سره يو ځای کېدی شي. او انسان نه پوهېږي چې هغسې فکر وکړي، څنګه يې چې عقل ورته وايي او يا هغسې احساس وکړي څنګه يې چې خپل جذبات ور محسوسوي. او په دې ډول دی د خپلې بربادۍ او وېشلې اروا په منځ کې يوه ټوکه ګرځېدلی دی.»

د کرچ دا جمله ډېره زيات اقتباس کېږي چې:

**«انسان په يوه داسې کاينات کې اخلاقي حيوان دی، چې په خپل ځان کې هېڅ اخلاقي عنصر نه لري.»**

د کرچ غلطي دا ده چې ده له خپلې دايرې نه دباندې ګام ايښی دی. زه چې په کومه نکته باندې ټينګار کول غواړم، هغه دا ده چې له دې خبرو چې کوم څه ثابتېږي، هغه دا نه ده چې ارزښتونه اصلاً وجود نه لري. بلکې دا ده چې انسان دغه ارزښتونه پخپله نه شي کشف کولی. دلته به زه د ډاکټر الکسس کيرل (۱۹۴۴- ۱۸۷۳) حواله ورکړم. ډاکټر کيرل (Alexis Carrel) په خپل کتاب نامعلوم انسان (Man the Unknown) کې ښودلې ده چې د ارزښتونو مسئله له دومره مختلفو او متنوعو علومو سره بلدتيا غواړي، چې انسان په خپل محدود ژوند کې دغه ټول علوم هېڅ کله نه شي حاصلولی. بيا د دغو علومو له ترلاسي وروسته د هغو تحليل او بيا پايله ورنه راويستل خو لرې پرېږده. هغه دا خبره هم رد کړې ده چې د متخصصينو يوه کمېټه دې په دې مسئله باندې څېړنې وکړي او وروستۍ نتيجې ته د رسېدو هڅې دې وکړي، ځکه «د يوه اعلی هنر، پنځونه د يوه ذهن کار دی، اعلی هنر په کومه اکاډمۍ کې نه پنځېږي.»

د زيګمنډ فرويډ (۱۹۳۹- ۱۸۵۶) له زمانې نه تر اوسه پورې چې د ارواپوهنې څومره مکتبونه منځته راغلي دي، هغوی له خپلو اختلافاتو سربېره په دې مشترکه هڅه کې بوخت وو، چې له ارزښتونو نه ازاد د ارواپوهنې علم ايجاد کړي. خو دا واقعيت دی، چې د يوې پېړۍ له پرلپسې هڅو سره، سره هغوی دې هدف ته په رسېدو کې پاتې راغلي دي. تر دې چط اوس د هغوی په منځ کې د دغه کار په خلاف غبرګون راپورته شوی دی. مثلاً د امريکا وتلی ارواپوه ابراهم مازلو (۱۹۷۰- ۱۹۰۸) چې د اثباتي – چلندي (Positivistic-Behavioristic) روايت له مخې روزل شوی و، د خپل ژوند په وروستيو کې د انساني فطرت د ژورو ګوښو په لټه پسې مصروف و. د مازلو وينا ده، چې:

**«ارواپوهنې خپل ځان په خپله خوښه د خپل قلمرو تر نيمايي برخې پورې محدود کړی دی.»**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الهي قانون

د وضعي قانون د ناکامۍ په باره کې چې موږ کومې خبرې پاس وکړې، په هغو هر هغه سړی ښه پوهېږي، چې قانوني اصول يې ور مطالعه کړی وي. حقيقت دا دی چې د قانپوهانو دا مفروضه له يوه سره بې بنياده ګرځېدلې ده، چې انسان د خپل ځان لپاره قانوني معيار پنځولی شي.

له هغه وروسته زموږ مخې ته دويمه مفروضه راځي او هغه د الهي قانون مفروضه ده. الهي قانون، چې محفوظ او مستند متن يې د قرآن کريم په شکل کې له موږ سره موجود دی. د دې کتاب دعوا دا ده، چې د قانون ماخذ د خدای الهام دی. يانې دا چې د دې کايناتو يو خدای دی. خدای د الهام له لارې خپل قانون په خپل رسول باندې نازل کړی دی، همدا قانون د انسان لپاره تر ټولو سمه کړنلاره ده. د دې قانون په بنسټ د قياس او اجتهاد له لارې نور قوانين سازېدی شي. خو له اصولي پلوه له دې قانون څخه انحراف روا نه دی.

زه وار دمخه دا اعتراف کوم، چې له سوچه علمي پلوه دا يوه ډېره مغلقه ادعا ده. خو يوه نکته چې دلته په ځانګړي ډول د پام وړ ده، هغه دا ده چې د دې پېچلتيا اسباب ضرور نه دي، چې په خپله په قانون کې دې هم وي. دغه اسباب په دې کې هم کېدی شي، چې زمو عقل د ځينو محدوديتونو (Limitations) ښکار دی او په دې اساس زموږ عقل نېغ په نېغه ټولو حقايقو ته نه شي رسېدلی. له نېکه مرغه د معاصر ساينس دريځ په دې مسئله کې زموږ په ملاتړ کې ولاړ دی. معاصر ساينس دا منلې ده، چې د حقايقو شمېر يوازې همدومره نه دی، څومره چې نېغ په نېغه زموږ په حسي تجربه کې راغلي دي. بلکې له دې وړاندې نور ډېر حقايق هم شته. بله دا چې نامعلوم حقايق نه يوازې له معلومو حقايقو په شمېر کې ډېر دي، بلکې د معلومو حقايقو په پرتله لا ډېر مهم او بامعنا هم دي. امريکايي پروفيسور فريډ برټولډ د منطقي پوزيټويزم فلسفه په څو ټکو کې په دې ډول راټوله کړې ده:

**«څه چې مهم دي، نامعلوم دي او څه چې د پوهېدو وړ دي، مهم نه دي.»**

په نولسمه پېړۍ کې تصور دا و، چې انسان د کلي حقيقت په لور روان دی. سره له دې چې هغه مهال هم کلي حقيقت له عملي پلوه د انسان له لاسرسي همدومره لرې و، څومره چې تر هغه دمخه يا وروسته لرې و. خو باور دا و، چې يوه ورځ به انسان اورمره کلي حقيقت ومومي. خو د شلمې پېړۍ ساينسپوهان پخپله د ثبوتيت (Positivism) يا فعليت (Operationalism) تر توغ لاندې موږ ته وايي، چې دغه تصور له يوې مخې غلط و، چې ساينس د اعظمي حقيقت (Ultimate Reality) يا خير په باره کې هم کومه خبره کولی شي. يوه بله فلسفه چې وجوديت (Existentialism) ورته ويل کېږي، هغه هم موږ ته دا باور راکوي، چې دا هېڅ ممکنه نه ده، چې محدود انسان دې د خير يو داسې معيار (Norm) ومومي، چې د ده له ذات نه ماورا وي.

له دې موندنو وروسته اوس بشري پوهه يوه منلې حقيقت ته رسېدلې او هغه دا چې قطعي دلايل يوازې په هغه څېړنيز ډګر کې وړاندې کېدی شي، چې برټرنډ رسل (۱۹۷۰- ۱۸۷۲) د شيانو علم (Knowledge of Things) ورته ويلي دي. دا بل ډګر چې د هغه په اصطلاح د صداقتونو په علم (Knowledge of Truths) پورې تعلق لري، په هغه کې مستقيم استدلال اصلاً ممکن نه دی. همدا ده چې اوس منل شوې ده، چې موږ په يوه مسئله کې قطعيت (Certainty) ته نه شو رسېدی، بلکې مازې دومره کولی شو، چې د يوه شي په باره کې احتمالي نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(Probable Judgment) ته د رسېدو هڅه وکړو. دا اصل يوازې تر غيرمادي حقايقو پورې محدود نه دی، بلکې ډېری هغه څيزونه چې له مادي حقايقو څخه شمېرل کېږي، په هغو کې هم مسئله تقريباً همدغه شان ده، لکه نور، يا د مقناطيسي ځواک تفصيلات.

زه به په جرأت سره دا خبره وکړم، چې د پرېکړې کوم بنياد چې معاصر علم وړاندې کړی دی، هغه په بشپړه معنا له الهي قانون سره موافق دی.

د الهي قانون دا مفروضه چې کاينات يو خدای لري، غالباً د اوسني انسان لپاره دومره ډېره گونگه نه ده، څومره چې دا جز ورته د پوهاوي وړ نه دی، چې خدای د الهام له لارې د خپل رضايت خبرې انسان ته استوي. زياتره لويو ساينسپوهانو په يو نه يو شکل خدای منلی دی. د نيوټن (۱۷۲۷- ۱۶۴۲) په نزد لمريز نظام ته د حرکت ورکولو لپاره يوه خدايي لاس (Divine Arm) ته اړتيا وه. ډاروين (۱۸۸۲- ۱۸۰۹) د ژوند د پيل لپاره يو خالق (Creator) اړين گڼلی و. آين‌سټاين (۱۹۵۴- ۱۸۷۹) د يوه عالي ذهن (Superior Mind) څرکونه ليدل، چې د کاينات په پديدو کې خپل ځان څرگندوي. جېمز جېنس (۱۹۴۶- ۱۸۷۷) خپلې مطالعې دې پايلې ته رسولی و، چې کاينات له «ستر ماشين» نه زيات «ستر ذهن» معلومېږي. د آرتر ايډنگټن (۱۹۴۴- ۱۸۸۲) په نزد معاصر ساينس موږ دې ته حقيقت ته رسوي، چې:

**THE STUFF OF THE WORLD IS MIND STUFF**

**(د کايناتو ماده، ذهني ماده ده)**

د ايفرډ نارت وايټ هيډ (۱۹۴۷- ۱۸۶۱) په نزد معاصر ساينسي معلومات دا په ثبوت رسوي، چې طبيعت ژوندی حقيقت دی، نه بې روحه ماده (NATURE IS ALIVE).

خو تر کومه چې د الهام خبره ده، نو زه دا منم، چې له سوچه علمي پلوه دا يوه خورا پېچلې عقيده ده. الهام له هغو شيانو څخه نه دی، چې عمومي مشاهدې ته دې وړاندې شي. خو دا خبره به بې له مبالغې وي، چې موږ له ډېری داسې حقايقو سره مخ کېږو، چې دا استنباط ورنه کولی شو، چې يو داسې حقيقت شته دی چې په الهام يې ونوموو. معاصر څېړنيز ميتود دا خبره مني، چې استنباطي حقايق (Inferred Facts) هم هماغومره يقيني حيثيت لرلی شي، څومره يې چې مشهود حقايق (Observed Facts) لري. نو ځکه زموږ د استدلال ارزښت په دې سره نه ټيټېږي، چې مشاهداتي نه دي، او استنباطي نوعيت لري.

په نولسمه پېړۍ کې د علت او معلول قانون (Principle of Causation)، خالق گڼل شوی و. خو په اوسنۍ پېړۍ کې گڼ داسې واقعات د ساينس په علم کې راغلل چې د مادي علتونو د عامو اصولو له مخې يې توجيه نه کېږي. د مثال په ډول په راډيو د الکترونونو ماتېدنه، د معلومو قوانينو له مخې د دغې پېښې د توجيه ټولې هڅې له ماتې سره مخ شوې ده، تر دې چې يوه ساينسپوه تر دې حده وويل، چې د راډيو په يوه ټوټه کې به کوم الکترون په کومه شېبه کې ماتېږي، دا پرېکړه کول د خدايانو په لاس کې ده، او خدايان چې بيا هر څه وي، هغه جلا خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژویو مطالعه هم همدا راته ښيي. د حيواناتو په هکله ثبوت شوي دي چې په هغوی کې چې کوم جبلت (Instinct) وي، هغه اکتسابي نه وي. مثلاً د شاتو مچې خپله ځاله اته اړخيزه جوړوي. هېڅ تربيوي نظام هغې ته نه دي ښودلي، چې اته اړخيزه ځاله ډېره زياته مناسبه ده، تر دې چې مچې د خپلې ځالې د معنويت کوم شعور هم نه لري. خو بيا هم د رياضيکي ساختماني ميتود له مخې داسې لګيا وي، لکه چا چې ورته ويلي وي، چې ته داسې وکړه. (**وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ، نحل: ۶۸**)

دغه راز بې شمېره پېښې دي، چې موږ يوه غالب دريځ ته رسوي، چې له شيانو نه دباندې هم يو شعور دی، چې دې شيانو ته د هغوی د ژوند د مسؤليتونو په اړه لارښوونې کوي. تر دې چې آرتر ايډنګټن معاصره کوانتمي نظريه د الهام ساينسي تصديق ګڼلې ده. د قرآن کريم دغه وينا د اوومې پېړۍ د انسان په پرتله د اوسني بشر لپاره ممکن لا ډېره د درک او پوهې وړ ګرځېدلې ده:

**وَأَوْحَى فِي كُلِّ سَمَاء أَمْرَهَا.** (**حم سجده: ۱۲**) ژباړه: او په هر اسمان کې يې (مناسب) احکام وحي کړل.

بيا چې کله موږ د انسان په مسئله غور کوو، نو جوتېږي چې د انسان ژوند دوه برخې لري. يوه هغه ده چې بيولوژيکي برخه يې بللی شو. بله يې هغه ده چې رواني برخه بلل کېږي. د انساني ژوند بيولوژيکه برخه کټ مټ په هماغه ډول خارجي قوانينو ته پابنده ده، لکه د کاينات نور شيان چې ورته پابند دي. د طبعي ساينس دنده يوازې دومره ده، چې د طبيعت هغه پټ قوانين رابرسېره کړي، چې له مخې يې د انساني ژوند بيولوژيکه برخه فعاليت ترسره کوي او دغه قوانين د انسان په همدغې برخې پلي کړي. اوس که دا خبره ومنل شي، چې د طبيعت هغه قانون چې له ستورو او سيارو نه واخله د انسان تر بيولوژيکې برخې پورې حاکم دی، د هغه ماخذ هغه الهام دی چې د کايناتي شعور له لوري هرې پديدې ته رسېږي، نو بيا په همدې باندې د قياس له مخې، دا منل ډېر اسانېږي چې د انسان د رواني برخې قانون هم د همدغه شعور له لوري متعين کېدی شي او بايد د هغه له لوري متعين شي.

له سوچه عقلي ليدلوري دا خبره کولی شو، چې دغه استدلال په يوه «قياس» ولاړ دی. خو دا ثابته شوې ده چې د انسان ساخت په داسې ډول شوی دی، چې د ده لپاره له قياسي استدلال نه تېښته ممکنه نه ده. که دی د قياسي استدلال له منلو انکار وکړي، نو بيا به ارومرو د تشکيک په غېږه کې پناه اخلي. چې له علمي پلوه ناشونی دی.

قرآن کريم هم په دې مسئله کې د ځواب همدغه طرز غوره کړی دی:

«**وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ قُلِ الرُّوحُ مِنْ أَمْرِ رَبِّي وَمَا أُوتِيتُم مِّن الْعِلْمِ إِلاَّ قَلِيلاً.**» (**بني اسرائيل: ۸۵**) ژباړه: او هغوی د وحي په هکله تانه پوښتنه کوي، ورته وايه: وحي خو زما د رب له امره دی او تاسو ته مازې کم علم درکول شوی دی.

دلته د وحي اړوند پوښتنې په ځواب کې دوه خبرې شوې دي. يو دا چې وحي د رب له امره ده. بله دا چې تاسې تا مازې کم علم درکول شوی دی. د لومړنۍ برخې معنا دا ده چې وحي په هماغه د انسان لپاره د رب امر دی، څنګه چې د عالمونو ټول نظام د رب تر امر (طبيعي قانون) لاندې دی. وحي کوم بېل شی نه دی، بلکې په بشري

(c) ketabton.com: The Digital Library

دایره کې هماغه شی دی چې تاسې يې د کايناتو په دایره کې ننداره کوئ. د دويمې برخې مطلب دا دی، چې له عقلي پلوه په وحي باندې د پوهېدو لپاره شرط دا دی چې تاسې دا واقعيت ومنئ، چې انسان ته علمِ قليل ورکول شوی دی، علمِ کثير نه دی ورکول شوی. که دغه واقعيت سره سم مخکې لاړ شئ، نو د وحي په حقيقت به پوه شئ او که له دغه واقعيت نه په انکار سره په وحي پوهېدل غواړئ، نو بيا نه شئ ورباندې پوهېدی.

حيرانوونکې خبره ده چې څوارلس سوه کاله پخواني اعلان نن ورځ د ساينس په معاصرترينه مرحله کې خپله رښتينولي په لا شدت سره ثابته کړې ده. له لومړۍ نړيوالې جګړې (۱۹۱۴- ۱۸) سره د ساينس يو نوی دور پيل شو، چې په پوره قطعي معنا يې دا خبره منلې ده، چې انسان د ځينو بيولوژيکو او رواني محدوديتونو ښکار دی، نو ځکه ټول حقايق په خپلو محسوساتو کې نه شي رانيولی. اړينه ده چې د خپلې پوهې د کمښت د پوره کولو لپاره دی په دوديزو ساينسي ميتودونو ځينې داسې روشونه هم ور اضافه کړي، چې تر نولسمې پېړۍ پورې غيرساينسي انګېرل کېدل.

آينسټاين د کاينات په هکله انقلابي ساينسي نظريات وړاندې کړي دي، د هغو په لړ کې ده اعتراف کړی دی چې ځينې کارونه په مروجو ساينسي روشونو نه شي کېدی. ده ساينسي نظريات په دوو ډولونو وېشلي دي. يو رغنده تيورۍ (Constructive Theories) دي او دوهمه ډله يې اصولي تيورۍ (Principle Theories) دي. ده وويل، چې د نسبيت تيوري يوازې د دوهمې ډلې د تيورۍ له مخې د پوهاوي وړ ده. په نورو ټکو کې دا چې آينسټاين د کاينات د ژورو حقايقو لپاره له ساينسي مشاهدې ور اخوا د يو بل ډول ساينسي تصور (Scientific Contemplation) خبره هم وکړه. يوه پروفيسور د آينسټاين د نظريې خلاصه په دې ټکو کې راوړې ده:

**«د ابدي حقيقتونو په بحث کې د تجربې دايره راتنګېږي او د تصور دايره پراخېږي.»**

د قرآن کريم دعوا ده چې قرآن يو الهامي قانون دی چې د انسان د لارښوونې لپاره نازل شوی دی. دا خبره چې په رښتيا هم الهامي قانون دی، د هغې لپاره پخپله قرآن ډېر عجيب دليل راوړی دی. قرآن کريم اعلان کړی دی چې انسان هېڅ کله هم د هغه په شان کتاب نه شي راوړی، که په دې کار کې دی هر څومره هلې ځلې هم وکړي:

**«وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فَأْتُواْ بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُواْ شُهَدَاءكُم مِّن دُونِ اللّهِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ.» (بقره: ۲۳)**

ژباړه: او که په هغه څه کې شکمن یاستئ چې موږ پرخپل بنده نازل کړي نو د هغه په شان يو سورت خو راوړئ، او د الله نه پرته خپل مرستيالان هم راوبلئ، که رښتوني ياست.

**«قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَن يَأْتُواْ بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا.» (بني اسرائيل: ۸۸)**

ژباړه: ورته ووايه که دا ګرد انسانان او پېريان په دې راغونډ شي چې د دې قران مثال راوړي، نو را به يې نه وړي که څه هم يو د بل مرستيالان هم شي.

د فلسفې د دايرة المعارف د ليکوال په ټکو کې، له فلسفي اړخه چې يو بنيادي سوال پيدا کېږي، هغه دا دی، چې هغه کوم معيار دی چې له مخې يې د الهام دعوا ورباندې وارزول شي. (دوهمه برخه لري...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چې کله د خدای تړون مات کړای شي

د مائده سورې په ۱۲م آيت کې راغلي دي، چې له محمدي امت نه مخکې چې کومو خلکو ته دين ورکول شوی و، له هغو نه الله تعالی کومه وعده اخيستې وه او کوم مسؤليتونه يې ور له غاړې کړي وو؟ هغه وعده دا وه، چې دوی به په خپل ژوند کې متحد او منظم اوسي. لمونځ به ترسره کوي. له خپلو مالونو به زکات ورکوي. د حق د دعوت ملگرتيا به کوي او خپل ځان او مال به نه ورنه سپموي.

> **«قال الاوزاعی بلغنی ان اللّه اذا اراد بقوم شرا الزمهم الجدل منعهم العمل.»**
>
> ژباړه: الله چې کله يوه قوم ته د شر اراده وکړي، نو په جدال او اختلافونو کې يې ښکېل کړي او د کار او عمل لارې ورباندې وتړي.
>
> (ابن عبدالبر، جامع بيان العلم و فضله جزء ثانی، صفحه ۹۳؛ ادارة الطباعة المنيرية، مصر)

په ۱۳م آيت کې ويل شوي دي چې هغوی په دې ژمنه ونه درېدل. هغوی د خدای وعده ماته کړه. د خدای له ټاکلې لارې واوښتل او خودساخته لارې يې ونيولې. په پايله کې د خدای له لوري د لعنت سزا ورباندې راغله. هغوی د خدای له رحمت نه لرې کړای شو.

د لعنت په تشريح کې مفسر، ابن کثير ليکلي دي: «**ابعدناهم عن الحق و طردناهم عن الهدی.**»

ژباړه: يانې خدای د هدايت له لارې واړول او له حق نه يې لرې کړل.

دغه «لعنت» گڼې درجې لري. کله چې د خدای پرستۍ دعوا کوونکې ډله د خپلې دعوې غوښتنې پوره نه کړي، نو په دغه ډله باندې لعنت پيل شي او ورو په ورو پسې زياتېږي. د لعنت عمل چې کله په منځنيو پړاوونو کې وي، نو د بېرته ستنېدو امکان وي. خو کله چې خلک په خپل انحراف کې هغې وروستۍ درجې ته ورسېږي، چې يهود ورته رسېدلي وو، نو د خدای له لوري په هغوی خپل لعنت بشپړ شي. بيا د هغوی لپاره د حق په خوا راستنېدنه ممکنه نه پاتې کېږي.

د لعنت عمل په کومو شکلونو کې څرگندېږي، په قرآن کريم کې يې پنځه ځانگړې نښې په گوته شوې دي:

**۱- د زړه سختوالی:** د دې معنا دا ده چې کله شخص يا ډله په خدای باندې له ايمان سره، سره پرلپسې د ايمان غوښتنې له پامه غورځوي، نو د ضمير ډيوه يې تته شي. د ده له زړه نه هغه لطيف احساسات ختم شي، چې انسان د باطل په خلاف نارامه ساتي او د حق په لور يې راکشوي. د حق پرستۍ تر ټولو قوي دليلونه ده ته بې وزنه معلومېږي، د خدای او رسول صريحې ويناوې د ده مخې ته راځي، خو په ده کې دا جذبه نه ټوکېږي، چې له خپل غلط روش نه لاس واخلي.

**۲- د الهي کلام تحريف:** يانې په دوی کې دومره سرزوري پيدا شي، چې هغوی د خپل ځان د بدلولو په ځای د خدای د کلام په بدلولو لاس پورې کړي. د هغوی په نزد نور د الهي کلام حيثيت دا نه وي، چې دوی ته لاره وښيي، بلکې دنده يې دا وي، چې د دوی د غلطو کړنو سپيناوی دې وکړي. د دې هدف لپاره هغوی د الهي کلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

غلط تاویلونه کوي، دوی د خدای له قانون سره هغه کار کوي، چې په محکمو کې له انساني قانون سره ترسره کېږي، هغوی د خدای کلام له خپل ځای نه بلې خواته اړوي.

**۳- د الهي لارښوونو لویه برخه هېرول:** دلته له هېرولو مراد پرېښودل دي. یانې د دین ځینې شکلونه خو اوس هم په دوی کې پاتې وي، مګر د دین لویه برخه یا په نورو کې ټکو کې د دین روح یې شاته غورځولی وي. د کتاب خاونده ډله هغه وخت دې حالت ته رسېږي، چې دین په کې نور د ژوند د مقصد په حیث پاتې نه شي. او ایمان د ژوندي شعور په ځای د دودیزې عقیدې جامه اغوستې وي. دغه وخت د دې خلکو د ژوند حقیقي مسایل نور څه وګرځي. دغه وخت د هغوی فکرونه او احساسات په یوه بل لوري کې ښکېل وي. البته د دین اقرار او د دین ځینې ظاهري شکلونه اوس هم په هغوی کې ژوندي وي، خو دا ټول مازې د یوه قومي او دودیز شي په حیث په هغوی پورې نښتي وي، له دې ور اخوا یې نور هېڅ حقیقت هم نه وي.

**۴- خیانت:** دا څلورم شی دی چې قرآن کریم په دې ټکو کې په ګوته کړی دی «او تاسې ته همېشه د هغوی د خیانتونو خبر در رسېږي.» د خیانت معنا ده، له یوه شخص نه چې د کوم څه توقع وي، د هغه په خلاف کار کول. مثلاً په عربي کې وایي **خَانَهُ سَيفُهُ** (د هغه تورې خیانت وکړ) یانې سړي چې د خپل دښمن په مقابله کې په توره کومه بروسه کړې وه، تورې هغه بروسه ونه شوی ساتلی. له دې معلومه شوه چې له لعنت وهلې ډلې نه د هغې کرکټر کډه باروي، د هغې په قول او فعل کې مطابقت نه پاتې کېږي. دغه ډله ژمنه کوي، خو سرته یې نه رسوي. له نورو نه د استفادې له امله چې په دې کوم حقونه راځي، د هغو د پوره کولو هېڅ فکر ورسره نه وي. دغه ډله نه خو هغه حقونه مني، چې د مالک له لوري د بنده په غاړه وي او نه په هغه اعتماد کې پوره خېژي چې یو انسان یې په بل انسان کوي.

**۵- خپلمنځي دښمني او کینه:** یانې کله چې هغوی د خدای رسۍ پرېښوده نو پایله یې دا شوه چې د هر سړي قبله جلا شوه. هغوی د یو موټی پاتېدو په ځای سره ووېشل شوو. په دیني چارو کې د یو بل تکفیر او تفسیق او په دنیوي چارو کې د یو بل لوټ او تالان د هغوی تګلاره وګرځېده. له هغوی نه هر شخص مازې شخصي ګټې لري. او کله چې شخصي ګټې د یوې ډلې قبله وګرځي، نو د اختلافونو او کشمکشونو پیدا کېدل لازمي دي. د شخصي ګټو له پرستش سره اتحاد نه پاتې کېږي. د خدای په رسۍ پورې تړلی پاتې کېدل اتحاد او اتفاق پیدا کوي او د خدای د رسۍ پرېښودو پایله دا ده چې په خپل منځ کې کینه او دښمني ریښې کوي.

له دې تفصیل وروسته ویل شوي دي چې کوم خلک د دغسې یوې ډلې د اصلاح لپاره راپورته کېږي، د هغوی اخلاق باید څه ډول وي. فرمایي «له هغوی تېر شئ او مخ ورنه واړوئ، یقیناً الله نېکان خوښوي.» یانې د یادې ډلې مزاج داسې وي چې کله د خدای ځینې بندګان هغوی خپل هېر کړي سبق ته راغواړي، نو د هغوی له لوري له خورا پاروونکي او د داعي لپاره ځورووونکي ځواب سره مخ کېږي. په داسې حالت کې اړینه ده چې داعي پخپله هم داسې ځوابونه ونه وایي، چې د منحرفې ډلې له لوري ورته رسېدلي دي، بلکې دا ډول خبرې له پامه وغورځوي او خپل کار ته ادامه ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې یې فرمایلي، «او الله به یې ډېر ژر په هغو کارونو خبر کړي چې دوی به کول.» یانې داعي باید خپل مسؤلیت په نظر کې ولري، نه د مخاطب پایله. دا کار د الله په غاړه دی او چې وخت یې راشي، هماغه به یې فیصله کړي.

★★★

## بشپړه مېرمنه هغه ده چې د خپل مېړه ملګرې شي

فرینک بورمن (Frank Borman) امریکایي ستورمزلی (فضانورد) دی. ده په داسې مصنوعي سپوږمکۍ کې فضا ته سفر وکړ چې یوه ښځه ستورمزلې هم ورسره سپره وه. ښاغلي بورمن په یوه مرکه کې وویل:

«په فضایي سفر باندې ښځې استول ښه خبره ده، خو د یوې ښځې او نارینه تر دومره اوږدې مودې پورې یو ځای پرېښودل ممکن ګډوډي جوړه کړي.»

د ښاغلي بورمن دې خبرې د نر او ښځې ترمنځ د مساواتو ګڼ شمېر علمبرداران وازه خوله کېښول. یوې امریکایي مېرمنې په خپله وینا کې په ډېره احساساتي ژبه وویل:

«ښاغلی فرینک بورمن به کله پیدا شوی و، که یې مور او پلار یو ځای وخت نه وای تېر کړی.»

علمي څېړنو او د عملي ژوند واقعیتونو د نر او ښځې د برابرۍ پخواني تصور ته ډېره زیاته ضربه ورکړې ده.

یوه امریکایي لیکواله مارابیل مارګن (Marabel Morgan) د دوو بچیانو مور ده. دې یو کتاب لیکلی دی، چې نوم یې دی: بشپړه مېرمن (Total Woman)

دې په خپل کتاب کې خپلو امریکایي خویندو ته د «خوشحاله ګډ ژوند» لپاره دا ساده نسخه ښودلې ده:

«له خپل مېړه سره سمې وچلېږئ. د هغه له څنډلو ډډه وکړئ. د هغه په اړتیاوو ځان پوه کړئ.»

دا کتاب له یوه کال نه هم په کمه موده کې درې میلیونه ټوکه خرڅ شوی دی. د لیکوالې په نزد د ښځې بشپړتیا له مېړه سره په ملګرتیا کې نغښتې ده نه په ازاد ژوند کې.

★★★

**عن ابی امامة عن النبی صلی الله علیه وسلم انه یقول: ما استفاد المؤمن بعد تقوی الله خیراً له من زوجةٍ صالحةٍ ان امرها اطاعته و ان نظر الیها سرته و ان اقسم علیها ابرته و ان غابَ عنها نصحته في نفسها و ماله. (ابن ماجه)**

ژباړه: ابو امامه وایي، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل، د خدای له وېرې وروسته چې مؤمن تر ټولو غوره څه مومي، هغه نېکه ښځه ده. که دی ورته کومه خبره وکړي، نو هغه یې خبره مني. که د هغې خواته وګوري، نو هغه یې خوشالوي. که دی کومه ژمنه ورکړي، نو هغه یې سرته رسوي. که دی لرې وي، نو دا د خپل ځان او د هغه د مال ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دا کیسې

مشهوره ده، چې د مهلهل کره چې کله لیلا وزیږېده، نو هغه یې په ژوندوني د خښولو امر ورکړ. خو د نجلۍ مور خپله لور پټه کړه. د شپې مهلهل په خوب کې ولیدل، چې یو سړی ورته وایي، چې د ده لور به یو تکړه زوی زیږوي. سهار چې شو، ده د خپلې لور پوښتنه وکړه. ده ته وویل شوو، چې د ده له امر سره سم هغه ژوندۍ خښه کړای شوه. مهلهل ونه منله او ټینګار یې پیل کړ. بلاخره یې ماشومه مخې ته ورته راوړه. ده امر وکړ، چې ماشومې ته غوره خواړه ورکړئ او ښه یې وساتئ.

وروسته د نجلۍ واده له کلثوم سره وشو او اوس به نجلۍ هم خوبونه لیدل، چې یو سړی راځي او د نوي ماشوم په باره کې عجبې او نادرې خبرې کوي.

بلاخره د دې زوی پیدا شو او همدا هغه مشهور شاعر دی، چې دنیا یې د عمرو بن کلثوم په نوم پېژني.

د ادبي تاریخ کره کتونکي دا کیسه جعلي ګڼي. د هغوی په نزد دغه داستان د عمرو بن کلثوم له شهرت وروسته خیالي پنځول شوی دی.

خو خبره دا ده چې تر دې لا زیاتې جعلي او خیالي کیسې د «بزرګانو» په باره کې پنځول شوې او خلك یې داسې لولي او اوري ته به وایې، چې اسماني وحي ورته راغلې ده. له یوه شي سره چې د تقدس عنصر یو ځای شي، هغه له هر ډول ارزونې او څېړنې لوړېږي او بیا له یوې مخې بې سنده کیسې هم خلك داسې مني، لکه رښتونی تاریخ چې وي.

★★★

## د انسان چې زړه ژوندی وي، نو یوه جمله یې هم ژوند بدلوی شي

مرزا محمد اعظم (زوکړه ۱۹۴۰) په راجوري (جمو او کشمیر) کې د ځنګلاتو افسر دی. دی چې کله کور ته ځي، نو د خپلو اولادونو لپاره مټایي او مېوې هم ځانه سره وړي. په سپټمبر ۱۹۷۵ کې چې په کومه ورځ دی کور ته ننوت، نو کومه خبره خو وه، چې ده ځان سره بچو ته څه نه و وړي. د پخوا په څېر ماشومان ورنه راټول شوو. خو کله چې معلومه شوه چې د خوړو یې څه نه دي راوړي، نو ماشومان ډېر حیرانه شول. شپږ کلن ارشد محمود طارق د خپلې مورنۍ ژبې په غرنۍ لهجه کې وویل: «چې زموږ لپاره دي څه نه دي راوړي، بیا نو کور ته د څه لپاره راغلی یې؟»

دا جمله په مرزا محمد اعظم باندې د غشي غوندې ولګېده. ځان سره یې سوچ وکړ، چې «ډېر ژر زه د خدای حضور ته ور روان یم، نو که خدای راته ووایي، چې تا خو زما لپاره هېڅ هم نه دي راوړي، نو دلته د څه لپاره یې راغلی یې، نو زه به څه ځواب ورکوم.» له دې نه مخکې د ده ژوند ازاد او غیر مذهبي ژوند و. خو دې پېښې دی بدل کړ. په حلاله روزۍ یې قناعت پیل کړ. بډیه یې پرېښوده. د لمانځه او روژې پابندي یې شروع کړه. د حج سعادت یې حاصل کړ. د خپلو بچو لپاره یې د دیني زدکړو زمینه برابره کړه.

د انسان چې زړه ژوندی وي، نو یوه جمله یې هم د ژوند د بدلولو لپاره بس ده. او که زړه ژوندی نه وي، نو د دلایلو انبارونه هم همداسې بې معنا وي لکه د حیوان مخې ته د وینا کېښته غږول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځومره عجيبه ده هغه محرومي چې د بريا له ځراغونو ترلاسه شوې وي

د قرآن کريم د ۴۱مې سورې په پنځمه رکوع کې خدای هغو نښو نښانو ته اشاره کړې ده، چې په ځمکې او اسمانونو کې خورې ورې دي ـــــ شپه، ورځ، لمر، سپوږمۍ، اوبه، سبزې او داسې نور. بيا يې فرمايلي دي:

**«يقيناً هغه خلك چې زموږ په ايتونو کې (باطل ته) کوږوالی کوي، له موږه پټ نه دي، ايا نو ځوك چې په اور کې غورځول کېږي، هغه غوره دی، که هغه ځوك چې د قيامت په ورځ بې غمه راشي؟ څه چې غواړئ هغه وکړئ، هغه ستاسې په هغو کارو چې کوئ يې، ښه ليدونکی دی.»**

د الحاد معنا انحراف ده، يانې له خبرې نه د اصلي معنا په ځای بله معنا اخيستل او بل لوري ته يې کږول (قال ابن عباس: **الالحاد** وضع الكلام على غير مواضعه، ابن كثير)

پيغمبر به چې د خپلې خبرې د ربښتياوالي لپاره د ځمکې او اسمانونو نښانې وړاندې کړې، نو منکرينو به ويل: دا نښانې خو د پلانکيو پلانکيو عواملو له مخې پيښېږي، د هغو يې ستا د پيغام له رښتياوالي سره څه کار دی؟ دغه راز يوه پېښه چې د حق سپيناوی به ورته زباديده، هغه به يې بلې خواته واړوله او ځان به يې له حق نه محروم کړ.

هرکله چې يو رښتونی دعوت راهسکېږي، نو الله تعالی يې د تائيد لپاره په شاوخوا کې راز، راز نښانې ښکاره کوي. خو غافل او سرکښه انسانان يې ډول، ډول توجيهات کوي او په دې ډول خپل ځان ورباندې مطمئن کړي. هغه پېښه چې د ايمان غذا بايد ورنه واخيستل شي، له هغې نه دوی د «الحاد» خواړه ترلاسه کوي.

**ځومره عجيبه ده هغه محرومي چې د بريا له ځراغونو ترلاسه شوې وي.**

---

# خو زړونه به يې له مرږګو نه هم ډېر بدبويه وي

**نبي کريم صلی اللّٰه عليه وسلم فرمايي:**

**«والذي نفسي بيده لا تقوم الساعة حتى يبعث الله امراء كذبةً و وزراء فجرةً و اعوانا خونةً و عرفاء ظلمةً و قراء فسقةً سيماهم سيما الرهبان و قلوبهم انتن من الجيف اهواؤهم مختلفة فيفتح الله لهم فتنة غبراء مظلمة فيتهاوكون فيها.»**

**ژباړه: قسم مې دې په هغه ذات وي، چې زما ځان يې په واک کې دی. قيامت به تر هغو رانه شي، چې هغه زمانه نه وي راغلې، چې دروغجن واکمن، بدکاره وزيران، خاين چارواکي، ظالم رهبران راښکاره نه شي. په دې زمانه کې به داسې فاسق ملايان وي، چې ظاهر به يې د راهبانو غوندې وي او زړونه به يې له مرږکو نه هم ډېر بدبويه وي. د هغوی هوسونه به له يو بله مختلف وي. په دې زمانه کې به اللّٰه داسې ړنده فتنه راهسکه کړي، چې خلک به په کې حيران او سرکردان پاتې شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

★

پوخوالی هغې ورځتیا ته ویل کېږي چې بنده له هغو شیانو سره سوله پیېز ژوند وکولی شي چې د بدلولو وس یې نه لري.

پوخوالی د عاجزي نوم دی. یو پوخ انسان د دې خبرې مېړانه لري، چې ووایي، «زه غلط وم.»

★

**عن ابي قلابة عن ابن مسعود قال: ستجدون اقواماً يدعونكم الى كتاب الله و قد نبذوه وراء ظهورهم.**

ژباړه: نیږدې به داسې خلک ومومئ، چې تاسې به کتاب اللّه ته غواړي، خو پخپله به یې کتاب اللّه شاته غورځولی وي.

★

## سفر له سره پیلېږي، نه له منځه...

«We must start again from scratch...»

مور به خپل سفر له ابتدايي نقطې پیلوو، هېڅ څوک له راتلونکي پړاو نه خپل سفر نه شي پیلولی. هر کله چې سفر پیلېږي، نو له هماغه ځایه به پیلېږي، چېرته چې په رښتیا انسان ولاړ وي. یو شخص په کابل کې دی او غواړي، جلال اباد ته ورسېږي. نو د داسې شخص لپاره دا ممکنه نه ده، چې خپل سفر له سروبي نه پیل کړي، دی به په هر حال کې خپل سفر له کابل نه پیلوي. له سروبي نه د سفر د پیلولو معنا دا ده چې سفر هېڅ کله پیل نه شي.

★

(c) ketabton.com: The Digital Library

## همان ورق که سیه گشته مدعا این جا است

د پوهنتون محصل وویل، «استاده! یوه خبره به درته وکم، بده یې مه منئ. په دې ورځو کې د قرآن کریم ترجمه رامطالعه کوم. خو هر ځای یې چې مطالعه کوم، داسې ښکاري لکه هماغه یو سورت چې بیا بیا لولم. په قرآن کریم کې هر خای د اخرت او جنت او دوزخ کیسې دي.»

یوه ساده ذهنه زده کوونکي ته چې په قرآن کریم کې څه په نظر ورغلي دي، نن ورځ هغه لویو، لویو د علم خاوندانو ته هم په نظر نه ورځي. دوی وایي چې د قرآن کریم تر ټولو لویه لارښوونه دا ده چې د الهي سیاست بیرغ اوچت کړئ او له ټولو قومونو سره وجنګېږئ او اسلامي حکومت قایم کړئ. حال دا چې په قرآن کریم کې هېڅ ځای هم دغسې امر نه دی شوی. هغه خبره چې په قرآن کریم کې هېڅ لیکلې نه ده، هماغه د خلکو لپاره تر ټولو مهمه خبره ګرځېدلې ده:

همان ورق که سیه گشته مدعا این جا است

★

★

★★

---

# د ژوند راز په مطابقت کې دی، نه په مخالفت کې

وایي، په جاپاني ژبه کې ګڼې داسې کلمې شته، چې د «کار» مفهوم افاده کوي. خو تر اوسه پورې په جاپاني ژبه کې داسې کوم لفظ نه و، چې د «فرصت» مفهوم دې وړاندې کړي. غالباً دا به یې یوازنی عامل وي، چې جاپانی قوم یې په دنیا کې تر ټولو ډېر خواریکښ قوم ګرځولی وي. په دوهمه نړیواله جګړه کې د جاپان اقتصاد دړې وړې شوی و. خو جاپاني زحمتونو معجزه وکړه. له جګړې یوازې ۲۵ کاله وروسته جاپان په اقتصادي ډګر کې د دنیا په څو خورا پرمختللو هېوادونو کې ځای حاصل کړ.

د مسلمانانو کیسه بیا له یوه بله اړخه ډېره دلچسپه بېلګه وړاندې کوي. زموږ په ژبه کې د اختلاف او نښتې د مفاهیمو لپاره لسګونه کلمې شته، خو د توافق او مطابقت د مفهوم د دُرستې افادې لپاره هېڅ کلمه نشته.

له تېرو دوو سوو کلونو څخه په هندوستاني مسلمانانو د پاڅون او تصادم سیاست دومره پراخې وزرې کړې دي، چې په اردو ژبه کې د هغه مفهوم د درستې افادې لپاره هېڅ سمه کلمه جوړه نه شوه، چې په انګریزي کې یې ADJUSTMENT بولي.

«با زمانه ستیز» د مفهوم لپاره خو موږ لسګونه کلمې لرو، خو د حیرانتیا خبره ده، چې د ADJUSTMENT د مفهوم لپاره له موږ سره ان یوه کلمه هم نشته. پایله یې دا ده، چې مسلمانان نن ورځ تر ټولو ډېر جنګیالی قوم ګرځېدلی دی. له حالاتو سره د همغږۍ له لارې خپله لاره ویستل یې هېڅ زده نه دي. د دوی له جنګېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحریکونو داسې ښکاري، ګوندې هغوی هېڅ خبر نه دي، چې د ژوند راز په مطابقت کې دی، نه په مخالفت کې.

د دې کار پایله په یوه عجیبه شکل کې دا ګرځېدلې ده، چې کوم د خدای بنده که دا ووایي، چې د ملي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره چې کومه طرحه جوړوئ، له حالاتو سره همغږې یې جوړه کړئ، نو دا خبره یې هېڅ په سر کې نه ځایېږي. دغه ډول اواز په حقیقت کې د توافق اواز وي، خو اورېدونکی یې د «قدم ورپسې پورته کړه هوا چې په کوم لوري وي» په معنا اخلي، ځکه دوی چې له کومو کلمو سره اشنا دي، د هغو له امله دوی یوازې دوه مفاهیم ډېر ښه پېژني: له زمانې سره جنګېدل یا له هوا سره تلل. له دې دوو ور اخوا، د دریمې رویې یې هېڅ بوی هم نه دی وړی.

★★★

## د خدای خدایي ته په ټیټه سترګه کتل

**ځینې اسلامي کړۍ خپل غړي منع کوي، چې الرساله دې نه مطالعه کوي. په دې کار اصلاً هغوی د دې خبرې اقرار کوي، چې د الرساله د دلایلو لپاره هغوی سره هېڅ ځواب نشته. د هغو خلکو به هم د خدای تصور څومره عجیب وي، چې په خپل ځان کې دا جرأت ویني، چې په داسې حال کې دې له عالم الغیب سره مخامخ شي، چې یو داسې دین یې ور خپل کړی و، چې د هغه په اړه پخپله هم په دې شک کې و، چې په ملاتړ کې یې د کتاب او سنت کافي دلایل نشته او له هغه پیغام نه یې خپلې سترګې پټې کړې وې، چې له روښانه دلایلو سره د هغوی مخې ته راغلی و. داسې روښانه دلایل، چې د هغو په باره کې یې محسوسوله چې که یې خپل ذهن ته د داخلېدو لاره ورکړه، نو د هغوی خپلې «عقیدې» به ورسره متزلزلې شي. د دغسې خلکو په اړه همدومره ویل کېدی شي، چې دوی د حیرانتیا تر کچې د خدای خدایي ته په ټیټه سترګه ګوري.**

★★★

## د ښځې او نر فرق په بیولوژیکي جوړښت کې د فرق پایله ده، نه مازې د ټولنیزو اسبابو پایله!

## ولې ښځې په دوهمه درجه کې دي؟

د ښځو لپاره د مساوي فرصتونو د سرسخت غوښتونکي په حیث زه له ډېر پخوا نه د هغوی د تخلیقي استعداد په باره کې په شبهاتو کې وم. مثلاً داسې ولې ده چې په ښځو کې د اعلی درجې ادیبان، شاعران، هنرمندان په دومره کم‌شمېر پیدا شوي دي؟ داسې ولې ده چې په هغو مسلکونو کې هم ښځې له نرانو نه په دوهمه درجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دي، چې په دوديز ډول ښځينه مسلکونه ګڼل کېږي، مثلاً پخلی کول او جامې ګنډل. ټول مشهور اشپزان او جامې ګنډونکي (ان د ښځينه جامو هم) سړي پاتې شوي دي.

زه تر اوسه پورې د ټولنپوهانو په دې خبره ولاړ وم، چې دا خو دود او ماحول دی، چې د ښځو په خلاف يې عمل کړی دی. خو په دغې ټولنيزې توجيه زما زړه بشپړ مطمئن نه و. له ماسره احساس دا و، چې له ماحول او د فرصتونو له نشتوالي ور اخوا نور هم ځينې اسباب شته چې ښځې يې له سړيو نه شاته تمبولې دي.

پروفيسور آيسنک چې د ځيرکتيا ضريب (I.Q.) يې کشف کړی دی او هغه چې وايي، د تورپوستي او غنمرنګي نسلونه، د سپين‌پوستو نسلونو په پرتله ټيټه ځيرکتيا لري. اوس ادعا کړې ده چې همدا خبره د ښځو لپاره هم سمه ده. ښځې په اصل کې خپلو جينونو همدغسې رغولې دي.

د حمل له وخت نه لا د هغوی ښځمنتوب همداسې معلوم او ټاکلی وي لکه په کمپيوټر کې. د ټولنپوهانو د ادعا بالعکس، دا دود او ماحول نه دی، چې يوه وړه ماشومه له نانځکو سره د لوبېدو شوق لري او يو کوچنی ماشوم د عسکري يونيفورم له لوبتوکي سره لوبېږي. دا په اصل کې د بيولوژيک ساخت اغېز دی. حتی يوه نجلۍ چې لا د مور په رحم کې وي، د هغې خاصره لګن د هلک په پرتله ډېر پراخه وي. خاصره لګن چې څومره پراخه وي، هماغومره به يې ښځمنوالی هم زيات وي. يوه بله خبره هم ليدل شوې ده، هغه سړي چې خاصره لګن يې پراخه وي، په هغوی کې ښځمنتوب، انفعاليت، ان د هم‌جنسي تمايلات مونډل کېږي. دغه راز هغه ښځې چې خاصره لګن يې لږ سورور وي، په هغو کې نارينه اوصاف، تعرض کوونکې، او د هم‌جنسۍ تمايلات زيات وي. دا تجربې دومره قطعي دي، چې هر شخص پرې شاخوا خلک ارزولی او تصديق يې کولی شي.

اموي خليفه عبدالملک بن مروان (۸۵-۲۳هـ) چې له نرۍ تېر شو، نو يوه زوی يې دا شعر ووايه:

وما کان قيس هلکه هلک واحد
ولکنه بنيان قوم تهدما

ژباړه: د قيس مرګ د يوه سړي مرګ نه دی، د يوه قوم بنسټ ونړېده.

د عبدالملک زوی وليد بن عبدالملک (۹۶-۵۰ هـ) چې دغه شعر واورېد، نو خپل ورور يې وځنډه چې دا خو د مايوسۍ خبرې دي، تا به داسې ويلي و:

اذا سيد منا خلا قام سيد
قؤل لما قال الکرام فعول

ژباړه: چې کله زموږ يو سردار رانه بېل شي، نو بل سردار د هغه ځای ونيسي، چې په قول او عمل کې زموږ د لويانو ځايناستی وي.

★
★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له مـــرګ نه پـــورې غاړه

په هر سړي هغه ورځ راتلونې ده، چې خپل ځان به د مرګ په دروازه ولاړ ومومي. تر شا به يې هغه دنيا وي، چې ده راپرې اېښې ده. او اوس بېرته نه شي ور ستنېدى. او مخې ته به يې هغه دنيا وي، چې اوس يې ور مخه ده. او هغې ته له ورتلو خپل ځان راګرځوى نه شي.

دغه ټاکونکې ورځ د هر انسان په لور په منډه راروانه ده. هغه ورځ به انسان په حيرانو سترګو ګوري، چې په خپل اصلي شکل کې بربنډ کړاى شوى دى.

د قيامت په باره کې په قرآن کريم کې راغلي دي **يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ** (هغه ورځ په پنډۍ به بربنډوالى راشي). عوفي د دې آيت په تفسير کې د عبدالله بن عباس دا قول راوړى دى: **حين يكشف الامر و تبدوا الاعمال** (ابن کثير)

ژباړه: چې چارې به روښانه شي او اعمال به څرګند شي. په دنيا کې هر انسان خپل ځان په يوه مصنوعي پوښ کې نغاړلى دى. انسان په خپل هر کار د ښکليو کلمو يوه پرده رااچوي. خو په اخرت کې به دا ټول شيان ليرې شي. هر انسان به په خپل اصلي صورت کې رامخې ته شي.

په دنيا کې دا ممکنه ده چې يو بنده دې په حقيقت کې خودپرسته وي، خو ځان دې خداىپرسته جلوه کړي. خپله دلچسپي دې يې له مقام او مرتبې سره وي، خو د دنيا په مخکې ځان په داسې انداز کې وړاندې کړي، ګواکې د حق بيرغ جګوونکى دى. شخصي مصلحتونه او شخصي ګټې دې يې د ټولو فعاليتونو مرکز او محور وي، خو په خپلو ويناوو او ليکنو کې دې په خلکو داسې جادو وکړي، چې خلک يې مجاهدِ اعظم وګڼي.

خو مرګ د انساني ژوند هغه پېښه ده، چې دغه راز ټول شيان باطلوي. له مرګ نه وروسته چې انسان کومې دنيا ته رسېږي، هلته به يې بې واره دغه ډول ټولې پردې له مخه پورته شي. د ده خپل اصلي او حقيقي صورت به رامخې ته شي، د ځان لپاره هم او د نورو لپاره هم.

★★★

يوه فرانسوي ليکوال کتاب چاپ کړى دى چې نوم يې دى ۲۵م ساعت (25th Hour). ليکوال د نړۍ ټولو تمدنونو ته له کتنې وروسته ښودلې ده چې انسانيت اوس د خپلې بربادۍ په اخري کناره ولاړ دى. زموږ ۲۴م ساعت پاى ته رسېدلى دى:

24th Hour Is Past.

همدا خبره د نړۍ د وروستي انجام په باره کې هم سمه ده. په قرآن کريم کې ويل شوي دي چې قيامت به يو ناڅاپه راشي. ګواکې زموږ هره شېبه اخري شېبه ده. هر وخت دا امکان شته چې انسانيت دې خپله د ژوند موده پاى ته رسولې وي او انسان دې د «۲۴ساعتونو» له پاى ته ورسولو وروسته په ۲۵م ساعت کې قدم اېښى وي.

★

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دیـــــن څـه دی؟

د دین معنا خوارېدل، فرمانبرداري کول دي. **قومٌ دینٌ** یانې فرمان منونکي وګړي. په حدیث کې دي: **الکیس من دان نفسه و عمل لما بعد الموت** (عقلمن هغه دی، چې خپل نفس خوار کړي او له مرګ نه وروسته ژوند لپاره عمل وکړي.) د اسلام دین نه مراد د ژوند کولو هغه طریقه ده، چې انسان خپل ځان د خدای په وړاندې وغورځوي. د خدای داسې تابعداره بنده شي، چې جذبات او احساسات یې د خدای په وړاندې تسلیم شي. له اروایي پلوه دین څه دی، دغه لاندې ایت یې بشپړ تفسیر راته لري:

**وَمَا هَذِهِ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلاَّ لَهْوٌ وَلَعِبٌ وَإِنَّ الدَّارَ الآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ. فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ. لِيَكْفُرُوا بِمَا آتَيْنَاهُمْ وَلِيَتَمَتَّعُوا فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ.** (عنکبوت: **۶۴– ۶۶**)

ژباړه: او دغه د دنیا ژوند له ساتېري او لوبې پرته بل څه نه دی او اصلي ژوندون خو د اخرت د کور دی، کاشکې دوی پوهېدلی. دوی چې کله په بېړیو کې سپاره شي نو په داسې توګه الله رابولي چې عقیده یې یوازې هغه لره سوچه کړې وي، خو کله یې چې وچې ته راخلاص کړي، یو دم ورسره شرک بنا کړي تر دې چې موږ څه ورکړي د هغو ناشکري وکړي او خوندونه واخلي نو ژر به وپوهېږي.

د انسان کښتۍ چې په سمندر کې وي او د څپو په منځ کې راګیره شي، نو بنده خپل ځان بالکل بې یاره او بې مددګاره محسوسوي. په دغه وخت کې ده ته معلومه شي، چې د ده ټول وجود په ټوله معنا په خدای باندې تکیه دی. په دې شبهه کې ده ته له خپلې بې وسۍ ور اخوا هېڅ هم سترګو ته نه درېږي، دی په ټول زړه او ځان خپل خدای ته غږ کوي. له خپل ټول وجود سره خدای ته متوجه کېږي. خو کله چې د سمندر له څپو راخلاص شي او وچې ته ورسېږي، نو حال یې سمدستي په بله واوړي. بېرته په دنیوي شیانو کې غرق شي. خپل عاجزانه حیثیت ورنه هېر شي. او په کبر او ځانولۍ کې مبتلا شي. د خدای او اخرت په ځای دنیا او د دنیا بوختیاوې یې د لېوالتیاوو مرکز وګرځي. لومړنی حالت د دین‌دارۍ حقیقت راته ښیي او دوهم حالت د بې دینۍ حقیقت. ګواکې دین دا دی چې د انسان اروایي وجود په بشپړه توګه د خدای په وړاندې مات شوی وي، او خدای یې خپل هر څه ګڼلی وي. خو بلې خواته بیا بې دیني دا ده چې په انسان کې ضد او سرتمبګي وي. د نن ورځې په دنیا کې ورک وي او د سبا ورځې دنیا یې هېره کړې وي.

د دین د حقیقت د لا وضاحت لپاره دلته له قرآن کریم نه څو نورې حوالې هم راوړو:

(یوسف وویل) بې شکه ما د هغو خلکو دین پرې ایښی چې په الله ایمان نه راوړي او همدوی له اخرته هم منکر دي. او ما د خپلو پلرونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب د دین متابعت کړی، موږ ته نه ښایي چې الله سره کوم شی شریک وګڼو، دا پر موږ او نورو (ټولو) خلکو د الله یو فضل دی خو زیاتره خلک شکر نه باسي. اې زما د زندان ملګرو! ایا ډېر بېلابېل خدایان غوره دي که هماغه یو برلاسی الله؟ تاسو چې له هغه پرته کوم شی لمانځئ، هغه له یو څو نومونو پرته بل هیڅ نه دي چې تاسو او ستاسو پلرونو ایښي دي، الله د هغوی په عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم سند نه دی رانازل کړی، حکومت له هغه پرته د بل چا نه دی، امر یې کړی چې له هماغه پرته بل هېڅ څوك مه لمانځئ، همدا سم دین دی خو زیاتره خلك نه پوهېږي. (**یوسف: ۳۷– ۴۰**)

او چاته چې کتاب ورکړ شوی و، هغوی (هم) سره بېل نه شول، مگر له هغه وروسته چې څرگند دلیل ورته راغی. او هغوی ته (هم) بل څه امر نه و شوی، پرته له دې چې الله ولمانځي، په داسې حال چې هغه لره د خپل دین سوچه کوونکي حق پلوي اوسي، لمونځ دې ترسره کوي، زکات دې ورکوي او همدا سم سیي دین دی. (بینة: ۴-۵)

نو سم برابر سوچه د دین په لور ورمخه کړه، په هماغه (اصلي) پیدایښت ټینگ اوسئ چې په هغه سره الله خلك پیدا کړي، د الله پیدا کړي جوړښت لره څه بدلېدل نشته، همدا سم برابر دین دی خو زیاتره خلك نه پوهېږي. د هغه لور ته گرځېدونکي اوسئ، وېره ترې کوئ، لمونځ ترسره کوئ او له مشرکانو څخه مه کېږئ. له هغو خلکو چې خپل دین یې بېل کړ او ډلې ډلې شول، له هرې ډلې سره چې څه دي په هماغه خوشاله دي. (روم: ۳۰-۳۲)

## پنځه گوني ارکان

په حدیث کې ویل شوي دي چې د اسلام پنځه ارکانه دي: کلمه، لمونځ، روژه، زکات او حج.

دین ته د ورننوتلو دروازه د کلمې اقرار دی: **لَا اِلَهَ اِلَا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُولُ الله.** په دې کلمه کې دوې خبرې دي: د الله وحدانیت او د محمد صلی الله علیه وسلم رسالت. یانې د خدایي له ټولو صفاتو سره الله تعالی خپل خدای منل. او محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی هغه مستند استازی منل، چې د حقیقت معرفت او د خدای د احکامو علم ترې حاصلېږي. یاده کلمه څه لفظي منتر نه دی، چې یوازې په ژبه ویل دې یې کفایت وکا. بلکې یو سنجیده اعلان دی. دا کلمه یوې خواته د خپل بادار (خدای) او بلې خواته د خپل لارښود (رسول) د موندلو اظهار دی. یاده کلمه د ټول ژوند ژمنه ده، چې بنده یې د خدای په شاهدي کې ترسره کوي. له همدې خو په قرآن کریم کې ویل شوي دي، چې د الله په نزد ایمان هماغه دی، چې **داخل القلب ایمان (حجرات)** وي. مازې په ژبه دغه الفاظ تېرول د خدای په نزد اعتبار نه لري. همدا وجه ده چې په احادیثو کې گڼ داسې شیان هم د «ایمان» له ډلې شمېرل شوي دي، چې تعلق یې په اصل کې په عمل پورې دی. مثلاً نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي چې په خدای قسم مؤمن نه دی، په خدای قسم مؤمن نه دی، په خدای قسم مؤمن نه دی، چې له ازاره یې خپل گاونډی خوندي نه وي. د کلمې اقرار چې د یوې سنجیده پرېکړې په توگه څرگند شي، نو د انسان په ټول ژوند کې د روح غوندې شامله شي. که داسې نه وي، نو بیا به کلمه د هغه لفظي عبارت حیثیت لري، چې د بنده له حقیقي ژوندون سره یې هېڅ تړاو نه وي.

له دې اقرار نه وروسته لومړنی فریضه لمونځ دی. لمونځ په اسلام کې تر ټولو مهم عبادت دی. الله تعالی په خپلو بندگانو د ورځې پنځه لمونځونه فرض کړي دي. له هر لمانځه نه مخکې لاس، مخ او پښې وینځل کېږي، چې اودس ورته وایي. په لمانځه کې بنده راز، راز اداب، عبارتونه او دعاگانې وایي او د خپل واکمن په وړاندې ټیټېږي. ان خپل تندی په مځکه ږدي. د خدای د لویوالي په مقابل کې د ځان د کوچنیوالي اقرار کوي. له هغه سره د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندګۍ تعلق جوړوي. قیام، رکوع او سجده ګواکې د خدایي په وړاندې د خپلې بندګۍ عملي اعتراف دی. په دې ډول بنده خپل ځان د عبدیت هغه مقام ته رسوي، چې هلته یې له خدای سره ملاقات ترسره کېږي. بنده خپل رب د عاجزۍ په سطحه کې مومي، نه د کبر او انانیت په سطحه کې.

روژه په کال کې د یوې میاشتې لپاره د رمضان په میاشت کې فرض شوې ده. د روژې وخت ګهیځ وختي پیلېږي او د سترګې تر لوېدو پورې دوام کوي. په دې جریان کې له اوبو او خوړو مطلق لاس اخیستل کېږي. د قرآن کریم په قول، روژه د دې لپاره فرض شوې ده، چې په بنده کې د تقوا او شکر (بقره) کیفیت پیدا شي. اوبه او خواړه د انسان تر ټولو لوی ضرورتونه دي. له تندې چې د بنده ستونی سوز واخلي، له لوږې چې د بنده زړه په رپېدو شي، هغه وخت ده ته معلومه شي، چې دی څومره کمزوری دی او د خدای مرستې ته څومره ډېر محتاج دی. بیا چې ماښام کله خواړه خوري او اوبه څښي، نو د دې خبرې تجربه ورته کېږي، چې د ده خدای په څومره بشپړ حالت کې د ده د ضرورتونو غمه خوړلې ده. د ده زړه د احسان‌مننې له جذباتو سرشاره شي. په ژبه یې د حمد او شکر ترانې په غړېدو شي.

زکات په مال او حاصلاتو کې د خدای حق دی. موږ چې په دنیا کې څه ګټو، که د څارویو او مځکې له لارې وي یا د فابریکو او دوکان له لارې یا د دندې او مزدورۍ له لارې، په هغه کې «زموږ» ونډه ډېره کمه وي. زموږ له دروني نظام نه واخله تر کایناتو پورې بې شمېره اسباب چې کله زموږ په ګټه یو بل ته لاسونه ورکړي، نو بیا موږ د یو څه ګټې وټې جوګه ګرځو. دا ټول اسباب نېغ په نېغه د مځکې او اسمانونو د خدای له لوري برابرېږي. د همدې لپاره ضرور ده، چې د کال په اخره کې چې کله د خپلو ګټو حساب کوو، نو یوه برخه یې د خدای په لاره کې وباسو او د دې واقعیت اعتراف وکړو، چې دا هر څه موږ ته زموږ خدای راکړي دي. که د هغه مرسته راسره نه وای، نو هېڅ ډول ګټه مو هم نه شوی کولی. زکات یا انفاق په اصل کې د تعلق د هغه لوړ کیفیت ښودنه کوي، چې بنده ته له ډېرې بې قرارۍ دا ارزو په زړه کې ودرېږي، چې د خپل بادار په مخکې خپل ځان تش کړي. ځکه خو په قرآن کریم کې ویل شوي دي چې مؤمنان چې کله چاته یو څه ورکوي، نو د حال ژبه یې په دې ډول ګویا وي چې: موږ یوازې د الله په رضا خواړه درکوو، نه له تاسې بدله غواړو او نه مننه. (الدهر: ۹)

حج کلنۍ عبادت دی، چې په مسلمان باندې په ژوند کې د یو ځل لپاره فرض دی. دا فرض هم هغه وخت دی، چې له خپله کوره حجاز ته په سفر کولو او په بېرته راستنېدو یې وس بر وي. او فرصت ورسره وي. که نه وي، حج ورباندې فرض نه دی. د حج مقامات هغه مقامات دي، چې د اسلام تاریخ په کې سازېدلی دی. هغه ځایونه دي، چې پیغمبرانو په کې د خدای عبادت کړی دی. د هغوی د قربانیو یادګارونه دي، او شرک تر قیامته پورې ورنه ویستل شوی دی. همدا هغه واحد ځای دی، چې په انساني تاریخ کې لومړی ځل دا پېښه وشوه، چې لامذهبیت مغلوب شو او دین تر قیامته پورې غالب وګرځول شو. له اثارو ډکه دغه جغرافیه ځکه انتخاب شوې ده، چې د ټولې دنیا مسلمانان هر کال دلته راټول شي او ټول په ګډه د الله عبادت وکړي. د اسلامي یووالي سبق واخلي. د دغه ځای له فضا نه نوی ایماني هوډ او نوی دیني شوق خپل وطن ته ورسره یوسي. حج راته ښیي، چې په څه ډول باید ټول انسانان د الله په شاوخوا راټول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په روزمره ژوند کې

پاسني پنځه واړه ارکان د قرآن کريم په ټکيو کې د دين معلوم او په وخت پورې تړلي ارکان دي. خو کله چې يو شخص دين ته ورننوځي، نو دی يوازې د معينو وختونو تر اعمالو پورې ځان نه ايساروي، بلکې دين يې په ټول ژوند کې ستن او بخيې شي. د ده له هرې رويې د دين ځرکونه لګېږي. له قرآن او حديث نه چې په دې تړاو کوم شيان معلومېږي، هغه په لاندې ډول دي:

لومړنی ذکر دی. په قرآن کريم کې ويل شوي دي، چې په ولاړه، ناسته، اړخونو په هر حال کې د الله تعالی ذکر کوئ. (آل عمران: ۱۹۱) په حديث کې راغلي دي، چې ژبه مو بايد هره شېبه په الهي ذکر لمده وي. (**لا يزال لسانک رطبا من ذکر الله**)

د ذکر معنا يادول دي. مطلب يې دا دی، چې له الله نه د وېرې او هغه سره د مينې تعلق بايد دومره زياته وده کړې وي، چې بنده ته هر وخت خدای ور ياد شي. دغه ذکر هغه روحاني مزی دی، چې انسان پرې له خپل خدای سره په تلپاتې اتصال (Constant Touch) کې اوسي. کله خو په دنيا کې د الله کاريګري ته په کتو بنده د الله د قدرتونو او لويي اعتراف کوي. کله د خدای احسانونه ور يادوي او د هغه شکر وباسي. کله يې د قيامت په ورځ د سوال او ځواب وېره ربړدوي  او خدای ته د بېننې لاسونه لپه کوي. کله يې د خپلې عاجزۍ احساس دې ته هڅوي، چې له خدای نه د رحمت او نصرت خواست وکړي. بس خو د ده په حساس زړه کې هره شېبه يو نه يو داسې شورش په ځپو وي، چې دی مجبوروي، چې له زارۍ او وېرې سره او په ژبه له ورو اواز سره خپل رب ياد کړي. (اعراف: ۲۰۵)

دا ذکر نه کوم نصاب لري. نه يې الفاظ معلوم او ټاکلي دي او نه کومه مشخصه او معينه بڼه لري. دا خو د خدای په آفاقي دنيا کې غوپې وهل دي، هلته چې ټول تعينات په کې له منځه ځي. نو بيا څنګه کېدی شي چې ذکر دې تر ټاکلو شکلونو پورې محدود پاتې شي؟ د الله د يادولو په وخت، په قرآن کريم کې د تدبر په مهال، په کاينات کې د غور کولو په شېبو کې، له ځان سره د محاسبې په حال کې، د مرګ او اخرت په باره کې د فکر کولو په جريان کې بيا بيا ځلې د مؤمن زړه راډکېږي او کله يې په زړه او ژبه باندې اثرات ښکاره کېږي، کله يې احساس دومره شديد شي، چې الفاظ يې هم له ملګرتيا نه لاس واخلي او د الله په ياد کې د ګرمو اوښکو په څاڅکو کې له سترګو په راوربدو شي. دا دی ذکر او همدغه ذکر د قرآن کريم له مخې تر ټولو ستر عبادت دی. (**عنکبوت**:**۴۵**)

دوهم شی نُصح (خيرخواهي) دی. د دې اهميت دومره ډېر دی، چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: **الدين النصيحه** (دين د خيرخواهي نوم دی) مؤمن له هر ډول ارواييي غوټو خلاص وي. په زړه کې يې د نورو انسانانو لپاره له خيرخواهي ور اخوا نور هېڅ هم نه وي. له نفرت، بغض، حسد، کينې او انتقام نه يې سينه تشه وي. مؤمن د هوا غوندې وي، چې له لګېدو پرته د ټولو له منځه تېرېږي. مؤمن د لمر په څېر وي، چې بې له امتيازه په هر بنده و بشر ځلېږي. مؤمن د مرغانو په څېر وي، چې په زړه کې يې د هيچا لپاره غوسه او انتقام نه وي. مؤمن د خدای هغه بنده دی، چې ځان يې خدای سره يو ځای کړی وي. دی بندګانو ته په هغه سترګه ګوري، په کومه سترګه چې د خلکو خالق هغوی ته ګوري. دا ډول شخص، د حديث په ټکيو کې، د الهي اخلاقو يو پيکر ګرځي، چې له ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندګانو سره یو شان مینه لري، نه د شیطاني اخلاقو پیکر، چې یوازې له «خپلو خلکو» سره یې دلچسپي وي. د نورو انسانانو لپاره یې په زړه کې له کرکې او دښمنۍ ور اخوا نور هیڅ هم نه وي.

دریم شی قسط (انصاف) دی. یانې له نورو سره په تعلقاتو او معاملاتو کې همېشه په عدل او انصاف چلېدل. په قرآن کریم کې مسلمانانو ته د انصاف حکم شوی دی (اعراف: **۲۹**) بله دا چې ویل شوي دي چې تاسې (تل) په عدل (محکم) ولاړ اوسېږئ. (نساء: **۱۳۵**) هغه شیان چې انسان د انصاف له لارې اړوي، د هغو له په ګوته کولو وروسته تاکید شوی دی، چې په هېڅ حال کې هم له انصاف نه مه اوړئ. انسان د اړیکو او خپلویو په روی او لحاظ کې له انصاف نه اوړي. فرمایلي یې دي چې که د خپلوۍ معامله وي، بیا هم په عدل او انصاف ټینګ ولاړ اوسئ. (**انعام ۱۵۲**) شخصي ګټې او هوسونه هم کله نا کله بنده له انصاف نه اړوي. فرمایلي یې دي چې که د نفس هوس هم وي، بیا هم د انصاف لمنه مه خوشي کوئ.(نساء: **۱۳۵**) په بغض او نفرت کې له انسان نه د انصاف حدونه هېرېږي. فرمایلي یې دي چې له یو چا سره مو دښمني راشي، بیا هم انصاف ورسره وکړئ، ځکه همدا لاره له تقوا سره سمون خوري. (مائده: ۸)

د انصاف تر ټولو اسان او قطعي معیار په حدیث کې دا ښودل شوی دی چې بنده له نورو سره هماغه رویه وکړي، چې د ځان لپاره یې خوښوي. حتی فرمایلي یې دي، چې په هغه شخص کې هېڅ ایمان نشته چې د ځان لپاره یو څه غواړي او د نورو لپاره بل څه (**لا یؤمن احدکم حتی یحب لاخیه ما یحب لنفسه**.)

## د دین خپراوی

دین چې په یوه دینداره بنده کې کوم خصوصیات پیدا کوي، له هغو نه یو دی ـــــ دین تر نورو خلکو پورې رسول. د دې رسونې دوه شکلونه دي. په قرآن کریم کې یوه ته تذکیر او بل ته انذار (اعراف:۲) ویل شوي دي. د لومړني تعلق په مسلمانانو پورې دی. د وروستني یې په نامسلمانانو پورې.

د تذکیر معنا وریادول دي. له دې نه مراد مسلمانانو ته نصیحت او موعظت کول دي. مسلمانان هغه خلک دي، چې دین یې منلی دی. هغوی له دیني مسؤلیتونو خبرول، هغوی ته د خپلې ژمنې (عهد) ور یادول دي. د همدې لپاره دې ته د تذکیر نوم ورکول شوی دی.

د تذکیر هدف د مسلمانانو اصلاح (نساء: **۱۱۴**) ده. نو ځکه اړینه ده چې په دې کار کې ټول هغه اداب په پام کې ونیول شي چې یو اصلاحي رسالت د خپلې نتیجې له مخې د فساد په رسالت بدل نه کړي ـــــ د غلطۍ په نیولو کې نرمه رویه (آل عمران: **۱۵۹**) غوره کړای شي، نه دا چې بد او رد وویل شي. د نحل سورې په ۱۲۵م آیت کې ویل شوي دي چې له مدعو سره باید د حکمت په ژبه خبرې وشي، یانې د دلایلو او براهینو ژبه وکارول شي، نه دا چې مازې امرانه انداز وي. خبره باید حسنه موعظت وي، یانې په خبرو کې شفقت او د زړه سواندۍ روح مل وي. د احسن جدال په پیرایه کې وي، یانې په بحث کې د تفهیم او حقایقو د روښانولو انداز وي، نه په یو بل د تور پورې کولو او د بل د کم راوستلو انداز.

که د تذکیر مخاطب واکمنه طبقه وي، نو مسئله لا زیات نازک رنګ اخلي. ځکه د غلطې طریقې په تذکیر که واکمن وپارېږي، نو هغوی به د مسلمانانو په وینو او وژنو لاس پورې کړي او د مسلمانانو په منځ کې د خپلمنځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

جګړو او نښتو پیدا کېدل الله تعالی ته دومره ناخوښ دی، چې په هره بيه له هغه نه د ځان ساتنې امر شوی دی. د واکمنو په اړه په ځانګړي تاکيد سره ويل شوي دي چې کله هغوی ته نصيحت کېږي، نو په يوازيتوب کې دې وشي، نه د شعارونو او ويناوو له لارې:

**سئل ابن عباس رضي الله عنهما امر السلطان بالمعروف و نهيه عن المنكر فقال: ان كنت فاعلا و لا بد ففيما بينک و بينه. ابن رجب حنبلی، جامع العلوم و الحکم، مكتبة الرياض الحديثية، قاهره ۱۹۶۲، صفحه ۷۱**

ژباړه: له عبدالله بن عباس رض نه وپوښتل شوو، چې پادشاه ته د امر بالمعروف او نهي عن المنكر څه حکم دی؟ ځواب يې ورکړ، که دې دا کار کاوه او له هغه پرته بله چاره نه وه، نو بس ستا او د هغه په منځ کې دې وي.

د دې برخې دوهم شی انذار دی. د انذار معنا له خطر نه اګاه کول، خبرداری ورکول دي. له دې نه مراد تر نامسلمانانو پورې د اسلام پيغام رسول دي. دا چې د اسلام په پيغام کې ټول زور د اخرت په مسئله باندې وي، نو ځکه د دې کار لپاره دغه لفظ کارول شوی دی. په قرآن کې د نبي صلی الله عليه وسلم په باره کې راغلي دي چې هغه خو فقط د يوه سخت عذاب نه وېروونکی دی. (سبا: ۴۶)

ارشاد شوی دی:

**وَكَذَلِكَ أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لِّتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَى وَمَنْ حَوْلَهَا وَتُنذِرَ يَوْمَ الْجَمْعِ لاَ رَيْبَ فِيهِ فَرِيقٌ فِي الْجَنَّةِ وَفَرِيقٌ فِي السَّعِيرِ**. (**شوری: ۷**)

ژباړه: او همدغسې مو تاته (دا) عربی قران وحي کړی دی، چې مرکزي کلی (مکه) او څوک چې شاوخوا يې دي، پرې ووېروې او د غونډېدو له ورځې يې ووېروې چې (هېڅ) شک پهکې نشته (کله چې) يوه ډله په جنت کې او يوه (بله) ډله په دوزخ کې وي.

د انذار تر شا د قرآن کريم په ټکيو کې دوه انګېزې لاس لري. نصيحت (خيرخواهي) او امانت (اعراف: ۷۸). مؤمن بنده چې د خدای بندګانو ته د دين رسولو کومه دنده ترسره کوي، هغه د دې جذبې له مخې وي، چې خلک د الله له عذاب نه وژغورل شي او د جنت لارې ته برابر شي. د الله هغه دين چې له ده سره دی، هغه ته دی د الله له لوري د يوه امانت په سترګه ګوري او په ځان دا خدايي فرض ګڼي، چې ياد امانت د هغه تر امانتدارانو (عامو انسانانو) پورې ورسوي.

## هجرت، جهاد

کله چې د خدای يو بنده د سوچه خدای پرستۍ دعوت ورکوي، نو د دې امکان وي، چې د نورو خلکو له لوري له ناوړه غبرګون سره مخ شي. دغه غبرګون په پيل کې د **الغاء في الكلام (فصلت: ۲۶)** ياني په وينا کې د شور ماشور جوړولو په بڼه وي، ياني د داعي په خبرو کې عيبونه پيدا کول. د حق له دعوت سره د خدای نصرتونه ملګري وي. دغه ډول دعوت چې کله په ماحول کې رابرېږي، نو دومره حقيقي او مدلل وي، چې اورېدونکي په کې د واقعي نيمګړتيا په راويستلو کې ځان عاجز محسوسوي. په دې وخت کې هغوی د عيب ګويي طريقه غوره کوي. راز، راز نکتې راباسي او هڅه کوي چې خلک پرې بدګمانه کړي. دغه فکري کشمکش کله نا کله تر عملي نښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې هم ورسېږي. دغه نښته د ایمان د خاوندانو لپاره کومې بنې خپلوي، د هغو وروستۍ او انتهایي بڼه یې هجرت او جهاد دی. ګواکې هجرت او جهاد د دین هغه برخې دي چې د مخالفینو له لوري د راپیدا شویو حالاتو په نتیجه کې رامنځته کېږي.

د هجرت معنا پرېښودل دي. په ساده ټکیو کې د دې معنا دا ده چې انسان له هغو شیانو لاس واخلي چې الله ورنه منع فرمایلي ده (مدثر: ۵). خو په خپله وروستۍ مرحله کې بیا کله د کور او کاله د پرېښودو هم‌معنا هم ګرځي. د داعي (بلونکي) په پرتله مدعو (بلل شوي) تل د ځواکمن حیثیت خاوندان وي. نو هغوی چې کله په مخالفت لاس پورې کړي، نو د نورو لارو له کارونې وروسته بلاخره دا ګواښ هم کوي، چې یا خو خپل دین پرېږدئ او یا زموږ له ځمکې ووځئ (ابراهیم: ۱۳) په دې وخت کې د خدای بندګان له وطن نه یوې داسې سیمې ته مخه کړي، چېرته چې په خپل دین ټینګ ولاړ پاتېدی شي.

د جهاد معنا هڅه کول دي. د حق پیغام د رسولو لپاره چې کومه هڅه کېږي، هغه هم جهاد دی (فرقان: ۵۲). خو د مخالفینو ضد او سرتمبګي ځینې وختونه دې ان ته ورسېږي، چې د حق د داعیانو د سر دښمنان وګرځي، او د هغوی په بشپړې خاتمې پسې پایڅې رابډ وهي. په دې وخت کې د حق خاوندان مجبورېږي، چې د ځان د ژغورنې لپاره راپورته شي. په دې ډول چې کومه مخامختیا پېښېږي، هغې ته جهاد وایي.

جهاد د قتال په معنا کې، هماغه شی دی چې د اوسنۍ زمانې په اصطلاح کې دفاعي جګړه ورته ویل کېږي. د دغه جهاد یو لازمي شرط دا دی، چې جګړه په اول کې د نورو له خوا پیل شوې وي (توبه:۱۳). د ایمان خاوندانو ته په هر حال کې د سوله‌ییز تبلیغ حکم شوی دی. د جنګ اجازه یوازې په هغه صورت کې ده، چې د جنګ لپاره مجبور (حج: ۳۹) کړای شوي وي. د دې په خوا کې نور شرطونه هم شته ـــــــ د مسلمانانو ځواک سره راټول وي، یو امیر ولري، چې ټول خلک یې اطاعت کوي، د منکرینو له سیمې لرې خپل یو اجتماعي مرکز یې جوړ کړی وي، په ځان کې یې د صبر صفت تر دې حده روزلی وي، چې له کم شمېر سره هم د مخالفینو له لوی شمېر سره بڼه په مېړانه مقابله وکولی شي. همدا وجه ده چې د اسلام په اوایلو کې په مکي دور کې د هر ډول ظلم سربېره د تورې پورته کولو اجازه نه ده ورکول شوې. د جګړې اجازه یوازې په مدینه کې ورکول شوه، چې کله پاسني شرطونه پوره شوي وو. د عبدالله بن عباس رض د روایت مطابق، (په مکي دور کې) له اویا نه ډېر ځله د قتال (جګړې) منع راغله، تر دې چې د حج په سورې کې د جګړې د اجازې لومړی آیت رانازل شو.

## د اسلام غلبه

د دین اصلي حقیقت خو دا دی چې بنده له خپل خدای سره د وېرې او مینې تعلق ټینګ کړي او د اخرت د بریا په خاطر فکر وکړي. خو په دنیوي ژوند کې د مؤمن د خوښې وړ یو بل څه (صف: ۱۳) هم وي. او هغه د اسلام غلبه ده. یانې د حق وګړي د نورو قومونو په وړاندې ځپلي نه وي، بلکې همدوی ته د مځکې په سربلندي حاصل وي.

خو د ایمان خاوندانو ته دا امر نه دی شوی چې هغوی دې نه وړي او نه راوړي او د اسلامي اقتدار لپاره دې هلې ځلې ترسره کړي. په قرآن کریم کې په ښکاره ټکو کې ارشاد شوی دی، چې د اقتدار خاوند الله دی. هماغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذات چې چاته وغواړي، واکمني ورکوي او چاته چې وغواړي واکمني ورنه اخلي (آل عمران: ٢٦) د انبیاوو له ډلې هېڅ پیغمبر هم د حکومت جوړوني ماموریت په مخ نه دی وړی. حضرت داؤد علیه السلام ته حکومت پاتې شو. خو په قرآن کریم کې راغلي دي چې «اې داؤده! موږ په ځمکه کې خلیفه ټاکلی یې.» د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ملګرو په باره کې په قرآن کریم کې راغلي دي:

**وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لاَ يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ.** (نور: **٥٥**)

ژباړه: له تاسې نه چې کومو کسانو ایمان راوړی او سم کارونه یې کړي، الله وعده ورسره کړې ده چې خامخا به یې په ځمکه کې هماغه شان خلیفه ګان وګرځوي لکه هغه خلک چې له دوی مخکې یې خلیفه ګان کړي وو او حتماً به یې هغه دین ورته محکم کړي چې دوی ته یې خوښ کړی او له وېرې وروسته به یې حالت په امن بدل کړي، یوازې ما به لمانځي، هېڅ شی به نه راسره شریکوي او له هغه وروسته چې هر څوک کافر شو نو هغوی به فاسقان وي.

ګواکې د مسلمان اصلي مسؤلیت دا دی چې لمونځ ترسره کړي، یا په نورو ټکو کې په الله پورې وصل وي. زکات ورکړي، یانې د بندګانو د حقونو په ادا کولو کې چابک وي. د رسول الله اطاعت وکړي، په نورو الفاظو کې دا چې په خپل منځ کې د سمع او طاعت نظام تر وروستي بریده مضبوط کړي. همدا هغه اعمال دي چې د الهي رحمت (د واکمنۍ د ډالۍ) سبب ګرځي. همدا هغه مؤمنه ډله ده چې الله یې د واک او اقتدار لپاره انتخابوي، ځکه همدوی د دې اهلیت لري، چې مځکنی اقتدار له الهي طرحې سره سم سمبال کړي. د دوی لپاره د اقتدار مطلب دا وي، چې دوی ته له وېرې او خطر نه پرته د خدای د عبادت کولو فرصتونه په لاس ورغلل. هغوی له الله پرته بل هېڅ شی هم د خپلې توجه مرکز نه ګرځوي. هغوی له ظلم او لویي نه ځان پاک ساتي او له اقتدار نه لاسته ورغلي فرصتونه د دین د محکموالي لپاره کاروي نه د ځان د محکموالي لپاره.

## پایله

یو تاجر تر سترګو دروليږ، په بېلا بېلو وختونو کې به نوموړی په مختلفو فعالیتونو کې ښکېل وګورئ. کله غلی، کله د غربېدا په حال، کله ناست، کله د سفر په حال، چېرته لګښت کوي، او چېرته بیا قضیې مخکې وړي. خو د دغو ظاهري مختلفو فعالیتونو لاسته راوړنه صرف یوه ده: د دنیا شتمني لاسته راوړل. دغه راز مؤمن هم په بېلا بېلو وختونو کې په ظاهره په بېلا بېلو عبادتونو او اعمالو کې مصروف ترسترګو کېږي. خو د هغو ټولو مقصد یو وي: د اخرت شتمني لاسته راوړل.

د اخرت شتمني څه ده؟ هغه دا ده چې بنده په ټوله معنا کې مؤحد وګرځي شي او له هر راز شرک نه پاک د خپل رب حضور ته ورشي:

**عن جابر رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: من لقی الله لا یشرک به شیئا دخل الجنة و من لقیه یشرک به شیئا دخل النار** (مسلم)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: څوک چې په دې حال کې د خدای حضور ته ورغی چې هېڅ شی يې له خدای سره نه و شريک کړي، جنت ته داخل شو. او څوک چې په دې حال کې خدای ته ورغی چې له خدای سره يې کوم څه شريک کړي وي، اور ته داخل شو.

د توحيد او شرک مطلب مازې دا نه دی، چې يو سړی د خدای په وړاندې عبادتي رسمونه ترسره کړي، نو هغه مؤحد دی. او څوک چې د يوه بت په وړاندې عبادتي دودونه ادا کړي، نو هغه مشرک دی. دا خو د دواړو له ظاهري نښو څخه مازې يوه علامه ده. توحيد او شرک په اصل کې د طالب او مطلوب (حج: ۷۳) حيثيت ته د رسېدو خبره ده، د بنده د ټول ذات نذرانه ده. د يوه شخص معبود هماغه دی چې د ده حقيقي مطلوب او مقصود وي، او له خپل ټول وجود سره د هغه لوري ته ورمايل وي، هغه څه چې بنده ورته د عظمت مقام ورکوي، چې دی ورباندې بروسه کوي، چې د درناوي او تقدس جذبات يې ورته ځانګړي کړي وي، چې تل يې په يادونو کې غرق وي، چې په تصور يې د ده نازک عواطف پارېږي، هغه چې دی تر ټولو ډېر ورنه ډارېږي او هغه چې تر ټولو ډېره مينه ورسره لري، هغه چې دی خپل ځان دومره په کې شامل (involve) کړي، چې هماغه يې هر څه او هماغه يې وروستۍ هيله وګرځي. يو څه ته په خپل ژوند کې دغه راز لوړ مقام ورکول له هغه نه خپل اله (مبعود) جوړول دي، بيا که دا ديوتا وي يا انسان يا د بنده خپل نفس؛ ساکښ شی وي يا بې ساه؛ ژوندی هستي وي يا مړه، ډېر وي يا مازې يو.

د ټول شريعت شيره دا ده چې بنده يوازې خدای خپل معبود وګرځوي. د شرک له ټولو ډولونو ځان وساتي او په ټوله معنا توحيدپرسته انسان شي. د هر ډول عظمت او لويي خاوند يکې يو الله دی. هغه انسان چې په اختيار او اقتدار کې بل څوک شريک کړي، هغه له هماغې يکې يوازينۍ اسرې بې برخې کېږي، چې له هغې پرته په دنيا کې بله اسره نشته. د داسې انسان مثال د هغه شخص په څېر دی چې له اسمانه راوغورځي (حج: ۳۱) او بيا په ټول کاينات کې د ده لپاره له بربادي ماسيوا نور هېڅ هم نه وي. له خدای نه پرته بل څوک د عقيدې او اعتماد مرکز ګرځول، هغه له خدای سره برابرول دي. دغه ډول عمل په دې کاينات کې «عظيم ظلم» دی او انجام يې دايمي عذاب دی. (**من مات وهو يدعو لله ندا دخل النار، بخاری**) تر دې چې دا هم شرک بلکې تر ټولو لوی شرک دی، چې انسان دې د خپل ځان تظاهر وغواړي؛ يانې چې احترام يې وشي، خوشاله شي؛ چې احترام يې ونه شي، ببر شي. دې ډول شخص خپل ځان د ځان لپاره معبود ګرځولی وي. دی په يوه داسې بدي باندې لړلی وي، چې له هغې نه لويه بدي په دې دنيا کې بله نشته:

**اخوفُ ما اخافُ عليکم الشرکُ الاصغر فسئل عنه فقال الرياء.** (**احمد، طبراني، بيهقي**)

ژباړه: نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ستاسې په تړاو له ماسره تر ټولو ډېره اندېښنه د شرکِ اصغر دی. ويې پوښتل: شرکِ اصغر څه دی؟ ويې فرمايل: ريا.

د بنده عبادت او د ده اسلامي فعاليتونه که دا پايله راوړي، چې دی په حقيقي معنا د **أَلاَّ تَتَّخِذُواْ مِن دُونِي وَكِيلاً** (**اسراء: ۲**) مصداق ګرځېدلی وي، الهي ذات يې د ټولو يادونو او توجهاتو مرکز ګرځېدلی وي، خدای د اله په توګه منل د هغه لپاره په ساده ټکو کې مازې د عقيدې يو شی نه وي، بلکې هماغه ذات يې اروايي اسره وي چې دی ورباندې ژوندی وي ـــــ که د انسان ژوند دغه نتيجه پيدا کوله، نو بې له شکه دی په دين ټينګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ دی. که داسې نه وي، نو شدیده اندېښنه ده چې ده لا تر اوسه هم دین نه دی موندلی. د دین په نوم کوم بل ځای نښتی دی.

له صریحو نصوصو نه ثابته ده چې د عمل دار و مدار ټول په نیت دی. الله ته یوازې هغه عمل مطلوب دی، چې خاص د هغه د رضا لپاره شوی وي. هغه عمل چې یو بل غرض په کې شامل شي، د الله په وړاندې یې هېڅ قیمت نشته ــــ هغه خلک چې له دین نه تجارت جوړوي، هغه چې د دنیوي ګټو او مصلحتونو له مخې یو دیني عمل غوره کوي، هغه چې یو دیني عمل د خپل کاري مسلک په توګه پیل کړي، هغه چې له داسې دیني فعالیتونو سره دلچسپي لري، چې عزت او شهرت پرې ترلاسه کېږي، چې د انسان «ایماژ» ورباندې ښه کېږي، چې ولسي رهبري پرې حاصلېږي، دا ډول خلک ډېر سخت په دې خطر کې مبتلا دي، چې د قیامت په ورځ دې د هغوی اعمال بې وزنه وګڼل شي. فرق نه کوي چې د دوی زړونو ته دغه دنیوي انګېزې له شعوري لارې ننوتې دي او یا په لاشعوري ډول.

★★★

★

**هېڅ څوک د چا ډېوه نه مړه کوي،**

**په ډېوې کې د تېلو کمی یې مړه کوي.**

★

## پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**